د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

# د مقاومو عضوي ککړوونکو(POPS)
# په هکله د ستهکهلم کنوانسیون لپاره ملي تطبیقي پلان



ډیسمبر ۲۰۱۷

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

# د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs)
# په هکله
# د سټکهلم کنوانسیون لپاره ملي تطبیقي پلان

ډیسمبر ۲۰۱۷

Building Environmental Resilience

تقویت تاب آوری محیط زیستی

# فهرست مطالب


| | |
|---|---|
| د پیل خبرې | ٤ |
| اجرایوي لنډیز | ٥ |

| | |
|---|---|
| [ ١ ] پېژندنه | ١٠-٧ |

| | |
|---|---|
| [ ٢ ] ملي وضعیت | ١٤-١١ |
| ٢.١ جغرافیه | ١٢ |
| ٢.٢ ډیموګرافي | ١٢ |
| ٢.٣ اقتصاد | ١٣ |
| ٢.٤ حکومتولي | ١٤ |
| ٢.٥ نړیوالې اړیکې | ١٤ |

| | |
|---|---|
| [ ٣ ] په روغتیا او چاپېریال باندې د مقاومو عضوي ککړوونکو اغېزې | ٢١-١٥ |
| ٣.١ مقاوم عضوي ککړوونکي په افغانستان کې | ١٦ |
| ٣.٢ له مقاومو عضوي ککړوونکو سره د مخامخ کېدو لارې | ١٩ |
| ٣.٣ روغتیایي اغېزې | ١٩ |
| ٣.۴ چاپېریالي اغېزې | ٢١ |
| ٣.٥ پایله | ٢١ |

| | |
|---|---|
| [ ٤ ] د قوانینو ارزونه | ٢٧-٢٢ |
| ۴.١ په افغانستان کې د چاپېریال پالیسي | ٢٣ |
| ۴.٢ دولتي ادارې او د مقاومو عضوي ککړوونکو د پالیسیو د پلي کولو په برخه کې یې مسئولیتونه | ٢۴ |
| ۴.٣ د مقاومو عضوي ککړوونکو د مدیریت په تړاو د وزارتونو ترمنځ د مسئولیتونو جوړښت | ٢٥ |
| ۴.۴ د مقاومو عضوي ککړوونکو په مدیریت پورې اړوند قوانین | ٢٥ |
| ۴.٥ د آفت وژونکو مقرره | ٢٦ |
| ۴.٦ د صنعتي کېمیاوي توکو مقرره | ٢٦ |
| ۴.٧ د صنعتي کېمیاوي توکو مقرره | ٢٦ |
| ۴.٨ د وارداتو مقرره | ٢٧ |
| ۴.٩ د پاتې شونو (کثافاتو) د له منځه وړلو مقرره | ٢٧ |
| ۴.١٠ د مقاومو عضوي ککړوونکو د مدیریت لپاره د ظرفیتونو)وړتیاوو( لنډیز | ٢٧ |

# فهرست مطالب


**[ ۵ ]  د مقاومو عضوي ککړوونکو ملي نوملړ** ۳۹ - ۲۸

۵.۱ آفت وژونکي ۲۹

۵.۲ پولي کلورينيټ شوي بای فينايلونه ( )PCBS ۲۹

۵.۳ ډاي اکسينونه ۳۰

۵.۴ هيکزا برومو بای فينايل (HBB) او پولي برومينيټ شوي ډای فينايل ايترونه (PBDE) ۳٤

۵.۵ هيکزا برومو سايکلو ديکان (HCBD) ۳٤

۵.٦ پير فلورو- اکټان سلفونيک اسيډ او د هغې مالګې، او پير فلورو- اکټان سلفونايل فلورايډ (PFOS) ۳٤

۵.۷ هيکزا کلورو بوتادين (HCB) ۳۸

۵.۸ پنتا کلورو بنزين (PECB) ۳۸

۵.۹ په نوملړ کې تشې ۳۹

**[ ٦ ]  د کېمياوي عمل پلانونه** ٤۸ - ٤۰

٦.۱ د مقاومو عضوي ککړوونکو د ملي پاليسی بيان ٤۱

٦.۲ د کېمياوي عمل پلانونه ٤۲

٦.۳ تشې، محدوديتونه او د اړتيا وړ سرچينې ٤۷

**[ ۷ ] زده کړې، لاسته راوړنې او پوهاوی** ۵۰ - ٤۹

۷.۱ د کرنې، کېميا، انجنيری او چاپېريال روزنيز کورسونه ۵۰

۷.۲ عامه پوهاوی او د کېمياوي توکو د مديريت په کړنو کې ګډون ۵۰

منابع ۵۱

ضميمه ۱: د مقاومو عضوي ککړوونکو د نوملړ د سروې فورمونه چې د ملي کېمياوي کاريډلې له خوا جوړ شوي دي ۵۳

ضميمه ۲: د موټرو په واسطه د تيلو د کلني لګښت اټکل ٦۰

ضميمه ۳: د ښاري جامدو پاتې شونو او ککړو شوو اوبو دفع کول ٦۱

ضميمه ٤: د ډای اکسينونو، فيورانونو او نورو غير قصدي مقاومو عضوي ککړوونکو دکچې او خپرېدو د پېژندنې لپاره د توکو ټولګه )ټولکيټ ٦۲

ضميمه ۵: د کېمياوي کاري ډلې نوملړ ٦۹

اختصارات ۷۰

# د پیل خبرې

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ۲۰۱۳ کال د فبروري د میاشتې په ۲۰مه نېټه د مقاومو عضوي ککړوونکو په اړه د سټکهلم کنوانسیون غړیتوب ترلاسه کړ. له دې کنوانسیون سره د کړو ژمنو پر بنسټ، افغانستان د مقاومو عضوي ککړوونکو په هکله خپل لومړنی ملي تطبیقي پلان چمتو کړی دی.

د ملي تطبیقي پلان چمتو کول د انسانانو د روغتیا او ژوند د چاپېریال د خوندي ساتلو پر لور یو ګام بلل کېږي. د دې پلان چمتو کول د افغانستان لپاره یو ارزښتناک پړاو دی او د دې کنوانسون د پلي کولو لپاره د افغانستان د ژمنتیا ښکارندویي کوي. د افغانستان چاپېریال ته د مقاومو عضوي ککړوونکو د خپرېدو یو با کیفیته نوملړ د دې پلان د یوې برخې په توګه چمتو شوی دی کوم چې د مقاومو عضوي ککړوونکو د مدیریت لپاره ښکاره ملي لومړیتوبونه په ډاګه کوي. د ملي لومړیتوبونو پر بنسټ، د وزارتونو او نورو دولتي ادارو په مرسته د کېمیاوي عمل پلانونه هم چمتو شوي دي. د کېمیاوي عمل په دې پلانونو کې د هوا د ککړتیا د راټیټولو او جامدو پاتې شونو د مدیریت اوسنۍ شته تګلارې رانغښتې دي.

د یادونې وړ ده چې د دې پلان په چمتو کولو کې له بېلابېلو شریکانو سره په دولتي ادارو او خصوصي سکتور کې سلا او مشورې شوې دي او د هغوی له ارزښتناکه معلوماتو څخه د دې پلان په چمتو کولو کې ګټه اخیستل شوې ده. د دې پلان مهمې موضوع ګانې په یو شمېر ملي غونډو کې چې د بېلابېلو شریکانو استازو په کې ګډون درلود وځېړل شوې او د نړیوالو کارپوهانو پوهه او آندونه هم په کې په پام کې نیول شوي دي. د شریکانو ټول وړاندیزونه او آندونه وځېړل شول او د امکان تر حده د دې پلان د وروستي کولو په وخت کې په پام کې نیول شوي دي.

د دې پلان د چمتو کولو مبارکي ټولو هغو کسانو ته چې په دې لړۍ کې یې برخه درلوده په ځانګړي ډول ملي کېمیاوي کاري ډلې ته چې غړي یې د مقاومو عضوي ککړوونکو د مدیریت اړونده مهمو دولتي ادارو کارکوونکي دي وایم. د دې پلان د چمتو کولو لپاره د دولت له ټولو کلیدی شریکانو سره د څېړنیزو ټیمونو په چوکاټ کې د سلاوې شوې چې مشري یې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې پر غاړه درلوده.

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د نړیوالو چاپېریالي آسانتیاوو (GEF) او د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام (UN Environment) له مالي او تخنیکي ملاتړ څخه مننه کوي. پر دې سربېره، دولت غواړي له دې ملي تطبیقي پلان څخه د سټکهلم کنوانسیون د اصولو د پلي کولو لپاره د افغانستان د دولت او وګړو له ژمنو سره سم ګټه واخلي.



شاه زمان میوندی

عمومي رئیس

د چاپېریال ساتنې ملي اداره

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

# اجرايوي لنډيز

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د چاپېريال ساتنې ملي ادارې دغه ملي تطبيقي پلان (NIP) د سټکهلم کنوانسيون ته چې د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) په هکله دی د خپلو کړو ژمنو د يوې برخې په توګه چمتو کړی دی.

د سټکهلم کنوانسيون په ۲۰۰۱ زيږديز کال کې نافذ شو چې موخه يې چاپېريال ته د مقاومو عضوي ککړوونکو د خپرېدو مخنيوی او يا کمول ده. د ډېرو زهرجنو او مقاومو کېمياوي توکو يوه ډولګه کوم چې د بشري کړنو له امله توليديږي او د اتموسفير د دوران په پايله کې په چاپېريال کې راټول او له يوه ځايه بل ځای ته لېږدول کېږي. افغانستان په ۲۰۱۳ زيږديز کال کې د سټکهلم د کنوانسيون غړيتوب ترلاسه کړی دی.

افغانستان دا مهال د نيړدې څلور لسيزو جګړې څخه د بيرته راوتلو په حال کې دی کومې جګړې چې د هيواد ډېری بنسټونه زيانمن او قوانين يې کمزوري کړل. د بُن د کنفرانس په تعقيب په ۲۰۰۱ زيږديز کال کې؛ د افغانستان اسلامي جمهوريت نوی اساسي قانون چې د اجرايي، تقنيني او عدلي برخو درلودونکی دی جوړ کړ.

د افغانستان په اساسي قانون کې د چاپېريال ساتنې ته ډير لومړيتوب د چاپېريال ساتنې ملي ادارې ته د واک ورسپارلو له لارې ورکړل شوی دی. چاپېريالي قوانينو تر نورو لومړيتوب ترلاسه کړی دی او د چاپېريال ساتنې ملي اداره په ټولو وزارتونو او نورو دولتي ادارو کې د چاپېريال اړوند موضوعاتو پوره واک لري. د چاپېريال قانون د چاپېريال ساتنې ملي ادارې ته دا واک ورکړی دی چې د ټولو هغو فعاليتونو او کړنو مخه ونيسي کوم چې چاپېريال ته زيان اړوي. د چاپېريال ساتنې ته د ژمنتيا سربيره؛ افغانستان د يو شمېر څو اړخيزه چاپېريالي هوکړه ليکونو(MEAs) غړيتوب هم لري.

د افغانستان د احصايې مرکزي ادارې (CSO) د هيواد د وګړو شمېر۲۹.۷۰ ميليونه اټکل کړی دی[1]. افغانستان همدا شان د وګړو د زياتيدو ډېره چټکه وده لري چې زيات شمېر وګړي (نيږدې نيم نفوس) يی ځوان نسل جوړوي چې عمرونه يې تر ۱۴ کلونو کم دي. د فقر لمن پراخه ده چې د هيواد تر دريمې برخې ډېر نفوس ورسره لاس او ګريوان دی، دا موضوع د وګړو پر سر د هيواد له کلني عايد (GNI) څخه چې ډير کم (۵۸۰) امريکايی ډالره دی په ښه توګه جوتيږی [2]. سره له دې؛ په تيرو ۱۵ کلونو کې د روغتيا او زده کړې په برخو کې لاسته راوړنې د پام وړ دي. تر بل هر وخت زيات ماشومان ښوونځيو ته ځي او د لوستو کسانو کچه لوړيږي، تر نيمايی زيات ځوانان چې عمرونه يې له ۱۵ تر ۲۴ کلونو پورې دي ليک او لوست کولای شي.

کرنه په افغانستان کې د کار او ژوند اساسي ټکی دی چې د هيواد ۷۸٪ وګړي پکې بوخت دي مګر د هيواد د ناخالص کورني توليد يوازې ۲۲.۶٪ جوړوي. افغانستان د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام (UNDP) د بشري پراختيا په پېژنځيز (شاخص) (HDI) کې د ۱۸۸ هيوادونو په ليکه کې ۱۶۹مقام خپل کړيدی چې په سيمه کې د سويلي آسيا په کچه تر ټولو وروستی دی. د وګړو د عمر اوسط يې ۶۳.۳ کاله ښودل شوی دی او د ۵ کلونو څخه د کم عمره ماشومانو د مړينې کچه په هرو ۱۰۰۰ زيږونونو کې ۵۵ اټکل شوې ده. د هيواد ډېری وګړي د بې کورۍ، د پاکو اوبو کموالي، د انرژۍ کموالي، روغتيايی اسانتياوو کموالي او بيکارۍ څخه رنځيږي.

د نړيوالې ټولنې د پانګونې سربيره د هيواد بنسټونه چې د جګړې په کلونو کې سخت زيانمن شوي وو د هيواد د نفوس د چټک زياتوالي په نظر کې نيولو سره کافي نه بلل کيږي. د هيواد کانونه چې ارزښت يې ۳ ترليونه امريکايی ډالره ښودل شوی دی [3,4] په راتلونکې کې د اقتصادي ودې ښه سرچينه ګڼل کيږي، لاکن د دې کانونو د را ايستلو او پروسس کولو په برخه کې د پام وړ پانګونې ته اړتيا شتون لري. په همدې حال کې د هيواد اقتصاد په سخت ډول په بهرنيو مرستو ولاړ دی.

افغانستان د يو متنوع طبيعي چاپېريال درلودونکی دی چې محدوده يی له ډېرو لوړو څوکو څخه چې تل په واورو او يخونو پوښلي وي تر ټيټو او ګرمو دښتو پورې ده. په همدې دليل ده چې د ژوو يوه پراخه تنوع شتون ولري چې ډېری هغه يې محلي ژوي جوړوي. همدا رنګه افغانستان د کډوالو الوتونکو لپاره د دمې کولو يو محدود شمير ځانګړې ځمکې (جهيلونه، ولاړې اوبه، ډنډونه) لري چې د نړيوال ارزښت درلودونکې دي.

د ارزونې لپاره د خورا کم ظرفيت په وجه شونې نده چې د مقاومو عضوي ککړوونکو مستقيم اغيز د افغانانو په روغتيا او يا هم د هغوی په طبيعي چاپېريال باندې وڅيړل شي سره له دې چې دواړه په لوړه کچه زيانمن شوي دي. په ښارونو کې د عضوي سون توکو څخه د ډېرې ګټې اخيستنې له کبله د ډای اکسين (dioxin) مواد توليديږي چې دا مواد د هوا د ککړتيا لامل کيږي له همدې امله د هوا د ککړتيا کچه ډېره لوړه ده. له منځه تللي توليدات چې پخپل جوړښت کې مقاوم عضوي ککړوونکي (POPs) لري له جامدو پاتې شونو څخه د اوبو دوران او په ځانګړي ډول د ځمکې لاندې اوبو سرچينو ته داخليږي کوم چې ډېری وګړي يې د خپلو ورځنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره کاروي.

1. CSO. (2017). Afghanistan Population Estimation 2017-2018. Kabul: Central Statistics Organization, available at: http://cso.gov.af/Content/files/تتتتت%20 س‌وفن/Final%20Population%201396.pdf
2 . WB. (n.d.). World Data Bank, World Development Indicators, Afghanistan, available (November 2017) at: http://databank.worldbank.org/data/reports.aspx?source=2&country=AFG
3 . Yousaf, S. (2016). 'Afghanistan's Mineral Resource Potential: A Boon or Bane?' Journal of Current Affairs, Vol. 1, No. 1 & 2: 86-109.
4 . ACCI, "Mining in Afghanistan;" Risen, "U.S. Identifies Vast Mineral Riches in Afghanistan.

د افغانستان د اوبیزو حوزو یوازې د کابل حوزې اوبه د اندس سیند له لارې بحر ته بهیږي نورې ټولې یې په مرغزارونو او ولاړو اوبو کې جذبیږي چیرته چې د کیمیاوې زهرجنو توکو راغونډیدنه ډیره زیانمنونکې ګڼل کیږي.

په افغانستان کې د خپرېدونکو مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) یو پراخ او دقیق نوملړ د دې پلان د یوې برخې په توګه چمتو شوی دی کوم چې مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) ته د رسېدنې لپاره ښکاره ملي لومړیتوبونه ټاکي. تر ټولو ستر یې د ډای اکسین لرونکو توکو غیر قصدي تولیدات بلل کیږي چې د لرګیو او ډېرو سکرو د سون څخه کوم چې د پخلي، د کورونو او نورو ځایونو د تودولو او یا هم د کلینیکي پاتې شونو له سوځولو څخه منځ ته راځي. همداشان بل ستر اهمیت درلورونکی له منځه تللي تولیدات  دي چې پخپل جوړښت کې مقاوم عضوي ککړوونکي (POPs) لري لکه د برومو سره ترکیب شوی PBDE، HBB او HBCD چې د اور په مقابل کی مقاومت لري او په پراخه کچه ورڅخه ګټه اخیستل کیږي. د جګړې په کلونو کې د صادراتو د شمېرو د نشتون له امله شونې نده چې د دې توکو دقیقه اندازه دې په هیواد کې معلومه شي؛ لیکن دا ډول کېمیاوی توکي  په پراخه کچه د جګړې څخه په مخکې کلونو کې په استهلاکي توکو  کې کارول شوي دي. دا مقاوم عضوي ککړوونکي (POPs) به تر هغه وخته چاپېریال ته خپریږي ترڅو پورې چې دهغه توکو د له منځه وړولو لپاره چې پخپل ترکیب کې (POPs) ولري یو سالم چاپېریالي سیستم جوړ نه شي.

همدا ملاحظات د PFOS د وارداتو له ډلې د وارداتي منسوجاتو، پلاستیک، مصنوعی فرشونو او کاغذي محصولاتو په تړاو هم د پلي کېدو وړ دي. د ستکهلم کنوانسیون له خوا د هوایي چلند لپاره د هایدرولیک مایع، د اور وژنې فوم او ځینو طبي وسایلو دوامداره د منلو وړ کارونې دا موضوع پیچلې کړې ده. بله ستره ستونزه د HCH پوډر زیاته اندازه پاتې شوني دي چې تر ۱۹۹۰ لسیزې پورې د شوروي جمهوریتونو د اتحاد له خوا افغانستان ته د ملخانو د کنترول لپاره صادر شوي دي. هغه زېرمې چې په هرات، مزارشریف او کندوز کې د دې توکو د ساتلو لپاره جوړې شوې وې تر اوسه ککړې پاتې دي.

د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) وروستۍ لویه سرچینه د جګړې څخه د مخکې کلونو د برېښنا د ویش سیستم دی چیرته چې په ټرانسفرمرونو کې د تودوخې د ټیټ ساتلو لپاره داسې غوړ کارول شوي دي چې پخپل جوړښت کې مقاوم عضوي ککړوونکي لري. ددې کلونو تر ۳۰۰۰ ډېر ټرانسفرمرونه په افغانستان کی شتون لرې چې ځینې یې اوس هم فعال دي.

د همدې لومړیتوبونو پر بنسټ، د کېمیاوی عمل پلانونه چې پکې یو شمېر اړوند وزارتونه او ادارې دخیلې شوې چمتو شوي دي. په دې پلانونو کې د هوا د ککړتیا د مخنیوي او د جامدو پاتې شونو د تنظیم موجودې ستراتیژۍ په پام کې نیول شوې دي. د افغانستان برېښنا شرکت (DABS) به د پاتې زړو ټرانسفرمرونو سروې وکړي چې د هغوی د وضعیت په هکله تصمیم ونیسی او د دوی د بدیل او له منځه وړلو لپاره به پلان جوړ کړي. د عامې روغتیا وزارت یوه پروژه په لاره اچولې ده چې دولتي روغتونونه د کلینیکی پاتې شونو (کثافاتو) د سوځولو په پرمختللیو ماشینونو (incinerators) سمبال کړي. د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) دغه عملي پلانونه د هغې محصولاتو او تولیداتو لپاره هم معیارونه ټاکي کوم چې د (POPs) څخه مستثنی دي. ګمرکونه به د تعرفې کوډونه جوړ کړي تر څو هغه توکي چې پخپل جوړښت کې (POPs) لري وپیژندل شي. د دې  کړنو او پروژو سربېره؛ د مقاومو عضوي ککړوونکو د کمولو او یا له منځه وړلو لپاره ۷۰.۴۵۰ میلیونه امریکایي ډالره بودیجې ته اړتیا شته.

# ۱

# پیژندنه

*The Stockholm Convention promotes international cooperation to eliminate or reduce the release of POPs into the environment*



*The Chemical Structure of DDT: a complex molecule containing Carbon and Chlorine*

# پیژندنه

د مقاومو عضوي ککړوونکو په هکله د سټکهلم کنوانسیون موخه د دې توکو له اغیزو څخه د انسانانو د روغتیا او چاپېریال خوندي ساتنه ده. د سټکهلم کنوانسیون د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) د غیر قصدي تولیداتو د خپریدو سربیره د دې توکو د کنټرولولو لپاره یو شمیر اقدامات وضع کړي دي تر څو دا توکي کم او چیرته چې امکان ولري له منځه یوسي. سربیره پردې؛ د دې کنوانسیون موخه د هغو زیرمو او پاتې شونو سالم مدیریت او تنظیم دی کوم چې پخپل جوړښت کې مقاوم عضوي ککړوونکي ولري او یا په مقاومو عضوي ککړوونکو ککړ وي.

د سټکهلم کنوانسیون د ۲۰۰۱ زیږدیز کال د مۍ د میاشتې په ۲۲ نیټه د باصلاحیته استازو په کنفرانس کې چې د مقاومو عضوی ککړوونکو په هکله په سټکهلم کې د ۲۰۰۱ زیږدیز کال د مۍ په ۲۲ او ۲۳ دایر شوی وو تصویب شو. افغانستان د ۲۰۱۳ زیږدیز کال د فبروري د میاشتې په ۲۱ نیټه د دې کنوانسیون غړیتوب ترلاسه کړ او غړیتوب یې د ۲۰۱۳ کال د مۍ د میاشتې په ۲۱ نیټه عملي بڼه خپله کړه.

دغه کنوانسیون ۲۶ قلمه کېمیاوی توکي چې د آفت وژونکو، صنعتي کېمیاوي توکو او غیر قصدي تولید شوو کېمیاوي توکو په دریو ضمیمو کې طبقه بندي شوي دي، د مقاومو عضوي ککړوونکو په توګه پیژندلي دي چې موخه یې په تولیزه توګه د دې توکو په تدریجي ډول کمول او د امکان ترحده له منځه وړل ده. د هغه کېمیاوي توکو لپاره چې په دریو ضمیمو کې راغلي دي د دې کنوانسیون غړي مکلف دي چې:

- الف ضمیمه: د دې توکو د تولید او کارونې د له منځه وړلو لپاره کړنې ترسره کړي.
- ب ضمیمه: د دې توکو د تولید او کارونې لپاره د محدودیتونو وضع کولو لپاره کړنې ترسره کړي.
- ج ضمیمه: د دې توکو د غیرقصدي خپریدو د کمولو لپاره کړنې ترسره کړي.

هغه کېمیاوي توکي چې په (ب) ضمیمه کې راغلي دي د هغوی کارونه د منلو وړ ده. په (الف او ب) ضمیمو کې د راغلو کېمیاوي توکو لپاره که چیرې غړي اغیزمن بدیل ونلري کولای شي د ځانګړې بښنې لپاره ځان ثبت کړي.

افغانستان د جګړې څخه وروسته حالاتو په نظر کې نیولو سره د هغو ستونزو په پیژندلو کې چې د مقاومو عضوي ککړوونکو له امله رامنځ ته شوې دي د بېسارو ننګونو سره مخ دی. د جګړې په لسیزو کې د هیواد ډیری بنسټونه له منځه تللي او قوانین زیانمن او ضعیف شوي دي چې بیا رغولو ته اړتیا لري. د هیواد د یو ناچیز اقتصادي پرمختګ دوې سترې سرچینې چې عبارت له کرنې او صنعت څخه دي، پکې له خورا ټیټې ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل کیږي، په داسې حال کې چې د هیواد ډیری فکري او تخنیکي پانګې په مهاجرتونو کې له لاسه تللې دي. د هیواد په ډیری سیمو کې دوامدارو نا امنیو دولت او نورو پرمختیایی اداراتو ته د کېمیاوی توکو تنظیم او په دې هکله د قوانینو پلي کول ستونزمن کړیدي، همداشان د هیواد اوږدو او خلاصو سرحدونو د چاپیریال زیانمنوونکو توکو د صادراتو د مخنیوي په چاره کی ډیرې ستونزې راولاړې کړې دي.

د ستکهلم کنوانسیون د غړیتوب په ترلاسه کولو سره افغانستان د دې کنوانسیون سکرټریت ته د لیست شوو مقاومو عضوي ککړوونکو د تولید او ګټه اخیستنې د له منځه وړلو او کمولو لپاره ملی تطبیقي پلان جوړ کړ. د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د چاپیریال ساتنې ملي اداره د ستکهلم کنوانسیون سره د شوو ژمنو د پلي کولو دنده پر غاړه لري. دغه ملي تطبیقی پلان (NIP) د چاپېریال ساتنې ملي ادارې (NEPA)، د نړیوالې چاپېریالي آسانتیا (GEF) په مالي او د ملګروملتونو د چاپیریال پروګرام (UN Environment) په تخنیکي مرسته چمتو کړی دی.

لومړی چوکاټ: هغه کېمیاوي توکي چې د سټکهلم په کنوانسیون کې د مقاومو عضوي ککړوونکو په توګه پېژندل شوي دي

| کېمیاوي توکي | لنډ نوم | الف ضمیمه | ب ضمیمه | ج ضمیمه |
|---|---|---|---|---|
| **آفت وژونکي** | | | | |
| الدرین (Aldrin) | نلري | X | | |
| الفا هیکزاکلوروسایکلوهیکزان (Alpha hexachlorocyclohexane) | Alpha HCH | X | | |
| بیتا هیکزاکلوروسایکلوهیکزان(Beta hexachlorocyclohexane) | Beta HCH | X | | |
| کلوردن (Chlordane) | نلري | X | | |
| کلوردیکان (Chlordecone) | نلري | X | | |
| ډي ډي ټي (DDT) | DDT | | X | |
| دایلډرین (Dieldrin) | نلري | X | | |
| انډرین (Endrin) | نلري | X | | |
| ګاما هیکزا کلورو سایکلو هیکزان (Gamma hexachlorocyclohexane) | Lindane | X | | |
| هیپتاکلور (Heptachlor) | نلري | X | | |
| هیکزاکلوروبنزین (Hexachlorobenzene) | HCB | X | | X |
| مریکس (Mirex) | نلري | X | | |
| پینتا کلورو فینول او دهغې مالګې او ایسترونه (Pentachlorophenol and its salts and esters) | PCP | X | | |
| تخنیکي اندوسلفان او اړونده ایزومیرونه یې (Technical endosulfan and its related isomers) | نلري | X | | |
| ټوکزافین (Toxaphene) | نلري | X | | |
| **صنعتي کېمیاوی توکي** | | | | |
| هیکزا برومو ډای فینایل (Hexabromobiphenyl) | PBB | X | | |
| هیکزابروموسایکلوډوډیکان (Hexabromocyclododecane) | HBCD | X | | |
| هکزا برومو ډای فینایل ایتر او هیپتا برومو ډای فینایل ایتر Hexabromodiphenyl ether and heptabromodiphenyl ether | PBDE | X | | |
| هیکزاکلوروبوتادین (Hexachlorobutadiene) | HCBD | X | | |
| پینتاکلوروبنزین (Pentachlorobenzene) | peCB | X | | |
| پیرفلورو اوکتان سلفونیک اسید اومالګې یې او پیرفلورو اوکتان سلفونایل فلوراید Perfluorooctane sulfonic acid its salts and perfluorooctane sulfonyl fluoride | PFOS | X | X | |
| پولی کلورینیټید ډای فینایل (Polychlorinated biphenyls) | PCB | X | | X |
| پولی کلورینیټید نفتالین (Polychlorinated naphthalenes) | n/a | X | | |
| ترا برومو ډای فینایل ایتر او پینتا برومو ډای فینایل ایتر (Tetrabromodiphenyl ether and pentabromodiphenyl ether) | PBDE | X | | |
| **غیر قصدي تولید** | | | | |
| پولی کلورینیټید ډای بینزو فیوران (Polychlorinated dibenzo furans) | PCDF/ Furans | | | X |
| پولی کلورینیټید ډای بینزو-پي-ډای اکسین (Polychlorinated dibenzo-p-dioxins) | PCDD/ Dioxins | | | X |

څرنګه چې د دې پلان د چمتو کولو مسئوله دولتي اداره د چاپېریال ساتنې ملي اداره (NEPA) ده خو بیا هم د لا اغېزمن ډیزاین او پلي کولولپاره په پراخه کچه د نورو دخیلو اړخونو چیرته چې د مقاومو عضوي ککړوونکو د شتون امکانات شته مشارکت او همکاري اړینه بلل کیږي. په همدې اساس د کېمیاوي توکو ملي کاري ډله (CWG) جوړه شوه چې غړي یې د اړونده دولتي ادارو لوړپوړي او تخنیکي چارواکي دي (پېنځمه ضمیمه وګورئ). د ملي تطبیقي پلان (NIP) د چمتو کولو پروسه په ټوله کې د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) د ملي همغږي کوونکي (فوکل پاینټ) له خوا د چاپېریال ساتنې د ملي ادارې (NEPA) د تخنیکي کارکوونکو په مرسته رهبري شوه.

د مقاومو عضوی ککړوونکو (POPs) د ملي تطبیقي پلان جوړښت په لاندې ډول دی:

١. پېژندنه

٢. ملي وضعیت

٣. په روغتیا او چاپېریال باندې د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) اغېزې

٤. د اداراتو ارزونه د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) د مدیریت په هکله

٥. د مقاومو عضوي ککړوونکو ملي نوملړ

٦. کېمیاوي عملي پلانونه او تشې، محدودیتونه او سرچینو ته اړتیاوې.

٧. زده کړې، لاسته راوړنې او د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) په هکله پوهاوی.

٨. اخځلیکونه

٩. ضمیمې

٢

# ملي وضعيت



# ملي وضعيت

## ۲.۱ جغرافيه

افغانستان د آسيا په سويل او مرکز کې په وچه پورې تړلی هيواد دی چې بډای تاريخ او متنوع نفوس لري. افغانستان د شپږو هيوادونو سره شريکې پولې لري، له پاکستان سره په سويل او ختيځ کې، ايران سره په لويديځ کې، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره په شمال کې او په لرې شمال ختيځ کې له چين سره نښتی دی. افغانستان د شمالی عرض البلد د ۲۹° او ۳۹° ترمنځ او د ختيځ طول البلد د ۶۰° او ۷۵° تر منځ پروت دی. د افغانستان مساحت ۶۵۲۸۶۴ کيلومتر مربع دی [۵].

افغانستان د قاره اي اقليم درلودونکی دی چې ژمی يې په مرکزي غرنيو سيمو کې ډير سوړ وي، په شمال ختيځ او واخان کې تودوخه په منځني ډول د جنوري په مياشت کې د منفی C۱۵° درجو څخه ټيټه وي. برعکس، په سويل لويديځ کې د سيستان حوزې په ټيټو سيمو کې، په ختيځ کې د جلال آباد په حوزه کې، په شمال کې د آمو د سيند په اوږدو کې د ترکستان په دښتو کې اوړی ډير تود او منځنۍ تودوخه يې د اوړي په موسم کې له C۳۵° لوړه وي.

افغانستان د تودو نيمه استوائي دښتو څخه نيولې تر دايمي واورو پوښل شوو سيمو د يو ستر متنوع چاپېريال درلودونکی دی. د ارتفاع د اغيزو سربيره د افغانستان موقيعت چې د څو بيوجغرافيايي سيمو لکه ايران-تورانين، سهارا-سيندين، هماليا او هند د پيوستون سيمه ده او همدا ټول عناصر چې د ژوو او ځارويو په تنوع کې اغيز لري د ژوند د تنوع د زياتيدو سبب شوي دي. همدا رنګه د بومي (کورنيو اصيلو) ژوو اندازه هم زياته ده چې په اټکلي ډول سره د ټولو ژوو ٪۳۰-۲۵ يې بومي ژوي جوړوي. سربيره پر دې د افغانستان بيولوژيکي ارزښت هغو کېډوالو الوتونکو کوم چې له سايبريا د هند نيمي لويې وچې ته د همدې لارې کډه کوي لوړ کړيدی. په افغانستان کې ځينې واړه جهيلونه او ډنډونه لکه کول حشمت خان او ولاړې اوبه د کډوالو الوتونکو د ژوند د پايښت لپاره چې د ځينو نسل يې د ګواښ سره مخ دی لکه سايبېريايي زانه ډير مهم بلل کيږي.

## ۲.۲ ډيموګرافي

د ۲۰۱۶ زيږديز کال د بشري پراختيا په راپور کې چې د هوساينې په اړه څو اړخيزه څېړنه وه افغانستان په ۱۸۸ هيوادونو کې ۱۶۹ ليکه خپله کړې وه [۶]. نفوس يې د احصايې مرکزي ادارې لخوا په ۱۳۹۶ هجري لمريز کال کې ۲۹.۷ ميليونه اټکل شوی وو [۷]. د متکي توب نسبت (dependency ratio) يعنې هغه خلک چې پخپل ځان متکي او عمرونه يې د کار (۱۵- ۶۴) کلو پورې دي د هيواد ٪۸۷ وګړي جوړوي [۸]. د ګاونډيو هيوادونو ايران او پاکستان سره په پرتله د هغوی اړونده شمېرې په ترتيب سره ۴۰ پر سلو او ۶۵ پر سلو کې دي.

په ۲۰۱۶ زيږديز کال کې د وګړو د ژوندانه اوسط ۶۳.۳ کاله اټکل شوی وو. د زيږون پر مهال د ميندو د مړينې کچه په ۲۰۱۵ زيږديز کال کې په هرو ۱۰۰۰۰۰ زيږونونو کې ۳۹۶ مړينې وې. دا شمېرې له ۲۰۰۱ کال څخه چې د مړينو شمير ۱۰۵۰ پېښې وو په ۲۰۱۱ کال کې ۵۳۶ ته راټيټ شوې دي [۹]. د ۵ کلونو څخه د کم عمره ماشومانو په مړينه کې افغانستان د نړۍ د تر ټولو لوړه کچه هيوادونو په ليکه کې دی چې شمېرې يې په ۲۰۰۰ زيږديز کال کې په هرو ۱۰۰۰ زيږونونو کې د ۲۵۷ مړينې او په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې ۱۶۱ مړينو ته په هرو ۱۰۰۰ زيږونونو کې راښکته شوې دي. دا شميرې په ۲۰۱۵ کال کې۷۰.۴ پيښو ته په هرو ۱۰۰۰ زيږونونو کې راټيټې شوې دي [۱۰]. د ۲۰۱۰ نه تر ۲۰۱۵ کلونو په موده کې د ۵ کلونو څخه د ټيټ عمره ماشومانو مړينه ۵۵ پيښې په هرو ۱۰۰۰ زيږونونو کې ده [۱۱]. له ۲۰۰۰ نه تر ۲۰۰۶ کلونو پورې د واکسيناسيون پوښښ له ۲۷ سلنې څخه ۳۷ سلنې ته لوړ شوی دی، او په ۲۰۱۵ کال کې دا شمېرې په هغو ماشومانو کې چې عمرونه يې له (۱۲ – ۲۳) مياشتو دي په هلکانو کې تر ۴۵ سلنې او په نجونو کې تر ۴۶.۴ سلنې لوړې شوې دي [۱۲].

---

5. CSO. (2014). Afghanistan Statistical Yearbook 2013-2014. Kabul: Central Statistics Organization
6. UNDP. (2016). Human Development Index 2016: Work for Human Development. New York: United Nations Development Programme.
7. CSO. (2017). Afghanistan Population Estimation 2017-2018. Kabul: Central Statistics Organization, available at: http://cso.gov.af/Content/files/ تخمین%20 نفوس/Final%20Population%201396.pdf
8 . WB. (n.d.). World Data Bank, World Development Indicators, Afghanistan, available (November 2017) at: http://databank.worldbank.org/data/reports.aspx?source=2&country=AFG
9 . WB. (n.d.). World Data Bank, World Development Indicators, Afghanistan, available (November 2017) at: http://databank.worldbank.org/data/reports.aspx?source=2&country=AFG
10. CSO. (2016). Afghanistan Living Conditions Survey 2013-14: National Risk and Vulnerability Assessment. Kabul: Central Statistics Organization.
11 . CSO, MoPH, & ICF International. (2016). Afghanistan Demographic and Health Survey 2015: Key Indicators. Kabul & Rockville, Maryland: Central Statistics Organization, Ministry of Public Health and ICF International, p. 15.
12. Ibid

## ۲.۳ اقتصاد

کرنه چې د هیواد ٪۸۷ کاري قوه پکې بوخته ده، د هیواد اقتصادي بنسټ جوړوي. سربیره پر دې چې د هیواد د ټولې خاورې یوازې ٪۱۲ یې کرنیزه ځمکه جوړوي بیا هم په ۲۰۱۵ زیږدیز کال کې کرنې د هیواد په کورني ناخالص تولید (GDP) کې ٪۲۲.۶ ونډه لرله [۱۳]. پیداوار په کامله توګه د ژمي په واورو او پسرلي په بارانونو پورې تړلې دي کوم چې د اقلیمي بدلونونو سره سخت حساس دي. د هیواد اصلي پیداوار غنم دي خو افغانستان له دې اړخه هم په ځان بسیا ندی.

د پیداوارو د تولید پېژنځیز (شاخص) له ۲۰۰۴ نه تر ۲۰۰۶ کلونو پورې ۱۰۰ وو او په ۲۰۱۳ کال کې ۱۳۴.۵ ته اوچت شویدی چې په ۷ کلونو موده کې یې ٪۳۴.۵ زیاتوالی موندلی دی. د غلو حاصل په ۲۰۱۴ کال کې ۲۰۲۱ kg/ha وو [۱۴]. د هر کارګر پر سر د کرنې ارزښت په ۲۰۰۵ کال کې د کینیا هیواد سره مساوی یعنې ۳۹۶ امریکایي ډالره تخمین شوی وو چې د نړۍ په کچه له شکته نه ۱۳م هیواد ګڼل کیږي [۱۵]. چې دا ممکن د کلیوالي اقتصادي پراختیا په وده کې تر ټولو مهم پېژنځیز وي.

| دوهم چوکاټ: د افغانستان اقتصادي جوړښت ۲۰۱۴ [۱۶] | |
|---|---|
| **پېژنځیز** | **ارزښت/ سلنه** |
| کورنی نا خالص تولید GDP | ۲۰.۰۳۸ میلیارده امریکایی ډالره |
| د سرې سر کورنی ناخالص تولید | ۶۳۳.۶ امریکایي ډالره |
| د کورني ناخالص تولید وده | ٪۱.۳ |
| انفلاسیون (د مصرفي توکو بیه) | ٪۴.۶ |
| په GDP کې د وارداتو او خدمتونو سلنه | ٪۴۶.۲ |
| په GDP کې د صادراتو سلنه | ٪۶.۶۰ |
| د جاری حساب تشې (۲۰۱۲) | ۷.۵ میلیارده امریکایي ډالره |
| د خدمتونو سلنه په GDP کې | ٪۵۳.۵ |
| د خدمتونو سوداګرې (۲۰۱۲) | ٪۲۵.۹۰ |
| د کرنې د ارزښت سلنه په GDP کې | ٪۲۳.۵ |
| د صنایعو سلنه په GDP کې (۲۰۱۱) | ٪۲۲.۵۰ |

نورې طبیعي زیرمې لکه طبیعي ګاز، تیل، د ډبروسکاره، مس، کرومایت، د شو کاني، تلک، سلفر، سرپ، زینک، اوسپنه، مالګه، ګران بیه او نیمه ګران بیه ډبرې لکه زمرود، لاجورد، سره لعلونه او یاقوت چې ددې نا استخراج شوو کانونو ارزښت ۳ تریلیون امریکایي ډالره اټکل شوی دی [۱۷] په استخراج سره به یې دا هیواد د نړۍ په کچه د کانونو یوه غنې سیمه وګڼل شي. دا هیواد همدا رنګه دا وړتیا لري چې د ټاپي (TAPI) ګاز لیکې د پروژې څخه چې له همدې لارې د منځنۍ آسیا څخه د سویلي آسیا هیوادونو ته ګاز لیږدوي ګټه پورته کړي.

د ورستیو پراخه پانګونو سربیره اوس هم زیربناوې په ټول هیواد کې کمزورې دي. په هیواد کې ۹۴۶۸ کیلو متره پاخه او ۲۴۳۹۶ کیلومتره خامه سړکونه شتون لري [۱۸]. د ګرځنده ټیلیفونو په راتګ سره د اړیکو په سیستم کې چې د خصوصي کمپنیو له خوا وړاندې کیږي انقلاب رامنځ ته شوی دی، د احصایې د مرکزي اداري (CSO) د اټکل پر اساس په هیواد کې دا مهال ۲۴۸۸۸۲۰۳ عدده ګرځنده ټیلیفونه شتون لري چې اطلاعاتو ته د لاسرسي په چاره کې ستر اغیز لري [۱۹].

13. World Data Bank, World Development Indicators, Afghanistan, available (November 2017) at: http://databank.worldbank.org/data/reports.aspx?source=2&country=AFG
14. Ibid.
15 . Ibid.
16. Ibid.
17. Yousaf, S. (2016). 'Afghanistan's Mineral Resource Potential: A Boon or Bane?' Journal of Current Affairs, Vol. 1, No. 1 & 2: 86-109.
18. CSO. (2014). Afghanistan Statistical Yearbook 2013-2014. Kabul: Central Statistics Organization.
19. Ibid.

## ۲.۴ حکومتولي

افغانستان اسلامي جمهوریت له دریو قوو (اجرائیه، مقننه او عدلیه) څخه جوړ شوی دی. هغه کنفرانس چې د ملګروملتونو په ملاتړ په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کې په بُن کې جوړ شو د سیاسي بیا رغونې یو بهیر پکې رامنځ ته شو چې پکې د افغانستان اساسي قانون، د ۲۰۰۴ کال ولسمشریزې ټاکنې او د ۲۰۰۵ کال د ملي شورا ټاکنې شاملې وې. د ۲۰۰۴ کال په ډسیمبر میاشت کې حامد کرزی د افغانستان لومړنی انتخاب شوی ولسمشر وټاکل شو او په ورپسې ډسیمبر میاشت کې ملي شورا افتتاح شوه. حامد کرزی په ۲۰۰۹ کال کې د دوهم ځل لپاره ولسمشر وټاکل شو. د ۲۰۱۴ کال د سپټیمبر په میاشت کې د مالیې پخوانی وزیر ښاغلی محمد اشرف غني د ولسمشر او ډاکټر عبدالله عبدالله د اجرایوي رئیس په توګه وټاکل شول. د یو باثباته مرکزي حکومت د جوړولو سره سره، په ولایتونو په خاص ډول سویلي او ختیځو ولایتونو کې نا امنۍ د هیواد لپاره سترې ستونزې دي.

د اساسي قانون پر بنسټ، د وزارتونو ادارې په مرکزي او د ولایتونو ادارې په محلي کچه تنظیم شوې دي. هر ولایت د خلکو لخوا ټاکل شوې ولایتي شورا او د ولسمشر لخوا ټاکل شوي والي لخوا اداره کیږي. هر ولایت بیا په ورو اداري واحدونو لکه ولسوالیو او بانډو باندې ویشل شوی دی چې هره ولسوالي د خلکو لخوا ټاکل شوې شورا لري چې د کړنو څارنه وکړي او په سیمه ییزه کچه په ادارو کې د خلکو فعال ګډون ډاډمن کړي[20]. په ښاري سیمو کې د ښاري چارو د سمون په موخه ښاروالۍ جوړې شوې دي چې د ښاروال او د ښاروالۍ د شورا لخوا اداره کیږي[21]. په ټول هیواد کې د سیمه ییزې حکومتولۍ لپاره د کلیو پرمختیایي شوراګانې (CDCs) شتون لري چې موخه یې سیمه ییزه حکومتولي او د پرمختیایي او بیارغونې پروژو څارنه او ارزونه ده.


د واخان د دهلېز یخچالي اوبه او په واورو پټ غرونه. بدخشان. © الیک کنیور، د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام

## ۲.۵ نړیوالې اړیکې

افغانستان د ۱۶ څو اړخیزه چاپیریالی هوکړه لیکونو (MEAs) غړیتوب لري چې په کې د ریو کنوانسیونونه چې د ژوند د تنوع، د اقلیم بدلون او د صحرایي کېدو او همدا رنګه سربیره پر دې د ګواښ سره مخ ډولونو او کېمیاوی توکو کنوانسیونونه هم شامل دي. (دریم چوکاټ: هغه څو اړخیز چاپیریالي هوکړه لیکونه چې افغانستان یې غړیتوب لري مراجعه وکړئ).

20 . Afghanistan. (2004). Constitution of the Islamic Republic of Afghanistan, Art. 140.
21 . Afghanistan. (2004). Constitution of the Islamic Republiعc of Afghanistan, Art. 141.

## ۳

# په روغتيا او چاپېريال باندې د مقاومو عضوي ککړوونکو اغېزې



# په روغتیا او چاپېریال باندې د مقاومو عضوي ککړوونکو اغېزې

## ۳.۱ مقاوم عضوي ککړوونکي په افغانستان کې

افغانستان یو لوی او پرمختللی صنعتي سکتور نه لري خو د هیواد له پرمختګ سره صنعتي سکتور هم وده کړې ده. سره له دې، هغه فابریکې چې شتون لري له ډیرو ټیټو ټکنالوژیو څخه پکې کار اخیستل کیږي او نه شي کولای چې د ککړتیا مخنیوی وکړي نو ځکه یې د ککړتیا کچه ډیره لوړه ده.

صنعتي پاتې شوني په معمول ډول له جامدو ښاري پاتې شونو (کثافاتو) او یا د کورونو له ناپاکو او کارول شوو اوبو سره ګډیږي.

ښاري جامد پاتې شوني معمولاً په ډیرانونو کې اچول کیږي چې ممکن په سم شکل ښخ او مدیریت نه شي. مایع کثافات د کورونو له چټلو شوو اوبو سره ګډیږي او بیا سطحي پاکو اوبو ته داخلیږي او د هغې د ککړیدو لامل ګرځي. په افغانستان کې د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) له امله روغتیا او چاپېریال ته راولاړې شوې ستونزې د خاورې، اوبو او هوا د ککړتیا له عمومي ستونزو څخه بیلې ندي.

### ۳.۱.۱ آفت وژونکي

که څه هم دا به سمه نه وي چې ووایو چې د آفت وژونکو د کارونې له وجې په افغانستان کې ستونزه نشته خو بیا هم یوازې دوې کېمیاوي مادې شتون لري چې د سټکهلم کنوانسیون د POPs په نوملړ کې شاملې دي او د اندیښنې وړ بلل کیږي چې عبارت له انډوسلفان او لینډین (او د هغې اړونده ایزومیرونو) څخه دي. ډي ډي ټي د ملاریا د مخنیوی لپاره په افغانستان کې نه کارول کېږي مګر د ځینې غیر قانوني او خپل سري وارداتو امکان یې شتون لري.

| | |
|---|---|
| **انډوسلفان** | هغه تولیدات چې په خپل جوړښت کې انډوسلفان لري د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د بندیز سربیره د آفت وژونکو توکو په پلورنځیو کې موندل کیږي. څرنګه چې دا مواد سیستماتیک ندي؛ ستر زیان یې هغو کسانو ته متوجه دی چې دا توکي کاروي. په کومو ځایونو کې چې بزګران دا توکي په خپلو کورونو کې ساتي هلته په ناڅاپي ډول د مسموم کیدو ګواښ شتون لري. |
| **لینډین او اړونده ایزومیرونه یې** | تر ۱۹۸۰ کلونو پورې د شوروي جمهوریتونو په زیاته کچه د HCH پوډر د ملخانو د کنترول او له منځه وړلو په موخه د هیواد شمالی ولایتونو کندز، سمنګان، بلخ او جوزجان او لودیځ ولایت هرات ته ورکړل. چې دا لومړني لینډین (γ-HCH) وو، لاکن د اصلي او ایزومیر ترکیب یې معلوم ندی. په سلګونو زره ټنه دا توکي وارد او په هرات، مزارشریف او کندز کې په لویو زېرمو کې ساتل کیدل. دا زیرمې په ۱۹۹۰ کلونو کې لوټ او برخلیک یې څرګند نه دی. دا زېرمې په پراخه کچه ککړې وې او اوس هم ککړې ګڼل کیږي.<br><br>هغه ځایونه چې د دې پوډر پواسطه پاک شوي وو، موسمي څرځایونه وو او له یو کال څخه بل کال ته پخپل حالت پاتې کېدل ځکه نو امکان لري همداسې ککړ پاتې شوي وي. د دې امکان هم شته چې یاد مواد په دې ککړو څرځایونو کې د مالونو د څرولو په وجه د خوړو کړۍ ته هم د ننه شي. |

### ۳.۱.۲ مواد کیمیاوی صنعتی

| | |
|---|---|
| **پي سي بي (PCB)** | د جګړې څخه مخکې په افغانستان کې په پراخه کچه PCB د بریښنا د لیږد په سیستمونو کې د سړوونکو غوړو په توګه کارول کیدل. ځینې دا سیستمونه د جګړو په وخت کې زیانمن او یا خراب شوي او سړوونکي غوړ یې په خاوره تویې شوي دي. دا سیمې باید اوس ککړې وګڼل شي. په ځینو حالتونو کې ممکن دا غوړ له خاورو څخه د ځمکې لاندې اوبو ته هم داخل شوي وي. له ۲۰۰۲ کال را په دېخوا ځینې زاړه وسایل په داسې وسایلو تبدیل شوي دي چې په هغوې کې داسې غوړ کار شوي چې پخیل جوړښت کې PCB نلري. سره له دې چې زیانمن شوي وسایل په ولایتي زېرمو کې د له منځه وړلو په موخه ساتل کیږي خو بیا هم ځینې زاړه وسایل لاتراوسه کارول کیږي. |
| **(ایچ بي بي) او (پي بي ډي اي)**<br>**HBB and PBDE** | هیکزا برومو بای فینایل (HBB) او پولي برومینېټ شوی ډای فینایل ایترونه، تیترا برومو ډای فینایل ایتر، پینتا برومو ډای فینایل ایتر، هیکزا برمو ډای فینایل ایتر او هیپتا برومو ډای فینایل ایتر (PBDE) په پراخه کچه د ۱۹۷۵ تر ۲۰۰۴ کلونو پورې د بریښنایې وسایلو، موټرو، ټوکرو او فرشونو په فابریکو کې د اور وژونکو په توګه کارول کیدل. دا توکي همدارنګه په پولي ارتان فوم (PUR)، منسوجاتو، اېپاکسی رزینونو، ربړ (رابر)، PVC، رنګونو او د هایدرولیک په غوړو کې موندل کیږي. دا توکي وروسته له کارونې او له کاره لویدو څخه چاپېریال ته خپرېږي. سره له دې چې د POP-PB-DEs تولیدات بند شوي دي، خو بیا هم د دوی د له منځه وړلو لپاره لویه ستونزه د هغو زېرمو پېژندل ده کومې چې POP-PBDEs او د هغه پاتې شونې پکې شتون لري. په افغانستان کې لا تراوسه د هغې زمانې ځینې زاړه عراده جات او نور وسایل شتون لري. د دوی د خپرېدلو تر ټولو ستر احتمال د همدې له کاره لویدلو او زړو فلزي وسایلو په بیا ګټه اخیستنه او د پلاستیکونو او ټوکرو په سرلوڅه سوځونه کې دی. په همدې وجه کیدای شي چې د ککړتیا کوم چې د دې هیواد وګړي ورسره مخ دي تر ټولو مهم عنصر همدا وي.<br><br>PBDEs همدا رنګه د (PBDF) او (PBDD) تشکیلوونکي هم بلل کیږي چې د له کاره لوېدلو برقي وسایلو په ابتدایي ترمیم او بیا ګټه اخیستنه او همدا رنګه د هغو توکو په سوځونه کې چې پخپل جوړښت کې (PBDEs) لري په پراخه اندازه منځ ته راځي [22]. پر دې سربېره؛ په نورو هیوادونو کې د ناپاکو اوبو د تصفیه خانو په جامدو پاتې شونو کې چې په کرنیزو ځمکو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي هم (PBDEs) شتون لري. |
| **PFOS** | پیرفلورو-اوکټان سلفونیک اسیډ، مالګې یې او پیرفلورو-اوکټان سلفونایل فلورایډ (PFOS) د سټکهلم کنوانسیون په B ضمیمه کې راغلي دي، دا په دې معنا ده چې په ځینو خاصو حالاتو کې یې کارونه تر اوسه جواز لري. (PFOS) یو بشپړ فلورینېټ شوی انیون دی چې په عام ډول په ځینو عملیو کې د مالګې په شکل او یا په لویو پولیمیرونو کې منځ ته راځي چې په هغې کې یو کوچونی برخه جوړوي. دا پولیمیرونه د (PFOS) اړوند عناصرو په نوم یادیږي، د دې امکان شتون لري چې دا توکي تجزیه شي او انیونونه یې چاپېریال ته خپاره شي څکه نو د سټکهلم کنوانسیون دا توکي هم تنظیموي. (PFOS) یو ډیر قوي مقاوم عضوي ککړوونکی دی او په بیولوژیکي سیستم کې راټولیږي. د نورو مقاومو عضوي ککړوونکو برخلاف دا مواد په شحمي انساجو کې نه راټولیږي لاکن د ځیګر او وینې په پروټینونو باندې نښلي.<br><br>د PFOS د سطحې د فعالیت خواصو په ډیرو کابردي عملیو کې د هغوې د صنعتي کارونې ارزښت ډیر کړی دی. پدې کې د منسوجاتو د سطحې پاکول (په خاص ډول مصنوعي فرش)، چرم، کاغذ(په خاص ډول د اوبو او غوړو ضد د خوړو د بسته بندۍ لپاره) شامل دي. PFOS لرونکي عناصر همدا شان په پاکوونکو توکو لکه (د موټرو په ویکس، القلي پاکوونکو، د غاښونو په کریمو او شامپو ګانو، د سینګار په وسایلو او د لاسو په کریمونو، د لوښو مینځلو په مایع، د اوبو ضد سپرې او د موټرو د مینځلو په تولیداتو) کې کارېږي. همدا شان دا توکي په اور وژونکو فومونو او کانونو کې، په ځینو ځانګړو طبي وسایلو لکه انډوسکوپونو کې هم کارول کیږي. |

22. UNEP. (2010). *Technical Review of the Implications of Recycling Commercial Penta and Octabromodiphenyl Ethers. Annexes. Stockholm Convention Document for 6th POP Reviewing Committee Meeting (UNEP/POPS/POPRC.6/INF/6) Geneva 11-15*. Geneva: United Nations Environment Programme.

| | |
|---|---|
| **PFOS** | د PFOS اړوند عناصرپه بیلابیلو برقي، نیمه هادي او عکاسۍ صنایعو کې د یو کېمیاوي عامل په توګه ځانګړي د کاروني ځایونه لري. دا توکي په کمه اندازه په ټرلو سیستمونو کې کارول کیږي چې په وروستي تولید شوي محصول لکه ډیجیټلي کامرو، مبایل ټلیفونونو، پرینټرونو، سکنرونو، د سټلایټ په سیستمونو او رادار په سیستمونو کې بیا دا توکي نه تر سترګو کیږي.<br><br>د افغانستان لپاره د PFOS په هکله تر ټولو ستره اندیښنه د مصنوعي فرشونو په هکله ده ځکه چې واړه ماشومان په مستقیم ډول د هغې څخه اغېزمن دي. په نورو هیوادونو کې څیړنو ښودلې ده چې PFOS د کورونو په ګرد او د ننه هوا کې، په فاضلابو کې او د ښاري پاکولو د خدمتونو څخه پیدا کیږي. د فرشونو د مینځلو له امله د PFOS د خپریدو امکانات شته، وروسته له هغې چې دا فرشونه زاړه شي او له کاره ولویږي ممکن د کثافاتو په ډیرانونو کې واچول شي او یا بیا ګټې اخیستنې ته وسپارل شي چې پدې صورت کې د PFOS د لاډیرو خپریدو سبب کیږي. ځینې توکي لکه منسوجات، فرشونه، فرنیچر او رنګونه چې د PFOS لرونکي دي په تیرو وختونو کې د کثافاتو انبارونو او ډیرانونو ته غورځول شوي دي. فرشونه د یو زیاته اندازه ککړو کثافاتو درلودونکي دي. د هغو مصنوعي فرشونو بیا ګټه اخیستنه چې PFOS ولري د سټکهلم د کنوانسیون له لوري منع کړل شوي ده. ډیرې هغه تولیدات چې دي له منځه تللو مصنوعي فرشونو له بیا ګټې اخیستنې څخه لاسته راغلي دي په چاپیریال او انسانانو باندې مستقیمه اغیزه لري.<br><br>د PFOS او د هغې اړونده عناصرو کارونه د خوړو په بسته بندۍ کې د اندیښنې وړ ګڼل کیږي ځکه چې د انسانانو روغتیا په مستقیم ډول د هغه تر اغیز لاندې راځي. همدارنګه کله چې دا توکي په کثافاتو بدلیږي نو چاپیریال ته د PFOS د خپریدو بله سرچینه هم بلل کیږي.<br><br>بالاخره د PFOS د کاروني امکان د کانونو او برمه کارۍ په برخه کې هم شتون لري چې دا ددې ظرفیت لري چې په ځمکه او اوبو کې هم خپاره شي او تولیدي سیمې په ککړو سیمو بدلې کړي. |

### ۳.۱.۳ غیر قصدي تولید

| | |
|---|---|
| **ډای اکسینونه (PCDD) او فیورانونه (PCDF)** | پولي کلورینیټیډ ډای بینزو-پی- ډای اکسین (PCDD) او پولي کلورینیټیډ ډای بینزو فیورانونه (PCDF) په ټولیز ډول د سوځولو له امله د غیر قصدی فرعي تولید په توګه او یا د صنعتي کېمیاوي توکو په تولید کې د ناپاکۍ په توګه منځ ته راځي. دا توکي د تودوخې او بربښنا د تولید لپاره په فابریکو کې د بایوماس او فوسیلي سون توکو د سوځولو، په ځینو فلزي او کېمیاوي صنعتي پروسو کې، او یا هم د کثافاتو د سوځولو او د انجنونو په داخل کې د توکو د سون په پایله کې تولیدیږي. له همدې اړخه دوی په زیاته اندازه په هوا کې خپریږي خو بیا هم امکان لري چې د فاضلابو او نورو جامدو پاتې شونو له لارې اوبو او خاورې ته هم لاره پیدا کړي |

## ۳.۲ له مقاومو عضوي ککړوونکو سره د مخامخ کېدو لارې

### ۳.۲.۱ هوا

په افغانستان کې خلک تر ټولو لومړی د هوا له لارې د POPs څخه اغیزمن دي. په خاص ډول، په کابل کې چې د هوا د ککړتیا درجه یې ډېره لوړه ده او لامل یې کورنی، ټرانسپورټ او کېمیاوي سون توکي ګڼل کیږي. په کورونو کې د پخلي او تودوخې په موخه د لرګیو، ډېرو سکرو، تیلو (اکثراً سوي مبلایل) سوځول د هغوی د ډېر راټولېدو سبب کېږي او په میرمنو او ماشومانو باندې ناوړه اغیزې لري چې پایلې یې د تنفسي ناروغیو له امله د مړینو له لوړې کچې څخه څرګندېږي.

### ۳.۲.۲ اوبه

د صنعتي او ښاري ککړو اوبو د سمې تصفیې د نشتون له کبله د ځمکې لاندې اوبه او سطحي اوبه لکه سیندونه، جهیلونه او ډنډونه د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) وروستی مزل دی. پر دې سربېره؛ د جامدو پاتې شونو ډېرانونه چې پکې مقاوم عضوي ککړوونکي (POPs) شتون ولري هم ممکن د سطحې او ځمکې لاندې اوبو ته لاره پیدا کړي. ډیرې کورنۍ د څاګانو د اوبو څخه د خپلو ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ګټه اخلي چې ممکن ددې څاګانو اوبه ککړې وي.

د افغانستان جهیلونه او ډنډونه د کډوالو الوتونکو لپاره ځانګړی ارزښت لري. په خاص ډول کول حشمت خان چې پکې مرغابۍ، ډینګ (مرغه)، او کب خواره آرام او تغذیه کوي. له همدې امله د ککړو شوو اوبو د کبانو له لارې د خوړو کړۍ ته د مقاومو عضوی ککړوونکو (POPs) د ننوتو امکان شتون لري.

### ۳.۲.۳ خاوره

د جامدو پاتې شونو له ډېرانونو او د فاضلابو له جامدو موادو څخه د کېمیاوي سرې (کود) په توګه ګټه اخیستل کیږي کوم چې ممکن په لوړه کچه په زهري ککړوونکو لکه درانده فلزاتو چې POPs پکې شتون لري ککړ وي. چې پدې بڼه ممکن POPs د میوو او سبزیجاتو له لارې د خوړو کړۍ ته داخل شي.

## ۳.۳ روغتیایي اغیزې

که څه هم د افغانستان د وګړو روغتیا، د ژوند اوسط او ماشومانو او میندو د مړینې کچه په دوامداره توګه د ښه کېدو په حال کې ده، د روغتیایي خدمتونو نشتون، نا سمې تغذیې، او فقر اغیزې د جګړې د کلونو نه تر اوسه پورې په خپل حال پاتې دي. هغه پروفایل چې تر ۲۰۱۰ کال پورې په دریو کلونو کې د مړینو د سروې د پایلو پر بنسټ چمتو شوی دی داسې یو پیژنځیز وړاندې کوي چې د POPs اغیزې د ناروغیو په خپریدو کې څیرې. د ښځینه وو د مړینې نسبت د تنفسي ناروغیو له امله ۱۴.۷٪ ښودل شویدی حال داچې دا نسبت د نارینه وو لپاره ۱۰.۹٪ دی. د پینځه کلونو څخه د کم عمره ماشومانو مړینه د تنفسي ناروغیو له امله ۳۵.۴٪ ښودل شوې ده [۲۳]. دا سروې د هوا د ککړتیا د اغیزو ښکارندویي کوي چې په کورونو کې د پخلي او یا تودوخې په موخه د لرګیو، ډېرو سکرو او نورو سون توکو د سوځولو په نتیجه کې رامنځ ته کیږي. د POPs د اغیزو د ارزونې په برخه کې ستره ستونزه داده چې ډیری خلک او ژوي په خپل بدن کې یو جوړښت لري چې کیدای شي POPs په پیچلو لارو د هغې سره تعامل وکړي په کومو چې موږ په بشپړ ډول نه پوهیږو. اپیډمیولوژیکې څیړنو ښودلې چې د بیلابیلو کېمیاوي توکو د اغیزو پیژندل یو ستونزمن کار دی. PCBs تر ټولو عام کېمیاوي توکي دي په همدې وجه تر ټولو ډیرې څېړنې ورباندې شوې دي. سربېره پردې؛ ځینې څیړنې د ککړو غذایي موادو او یا په فابریکو کې د ناڅاپي مسموم شوو پیښو پر بنسټ ولاړې دي چې دا ممکن د ټیټې سطحې د اغیزې یو عادي ډول نه وي. اکثره هغه POPs چې د ستکهلم په کنوانسیون کې لست شویدي د سرطان ناروغۍ سبب ګرځیدلای شي، د دې کېمیاوي توکو اغېزې پر روغتیا باندې د بیلا بیلو میکانیزمونو له لارې په لاندې ډول لنډې شوې دي.

23. APHI/MoPH, CSO, ICF Macro, IIHMR & WHO/EMRO. (2011). *Afghanistan Mortality Survey 2010*. Calverton, Maryland: Afghan Public Health Institute, Ministry of Public Health, Central Statistics Organization, ICF Macro, Indian Institute of Health Management Research, and World Health Organization Regional Office for the Eastern Mediterranean.

| | |
|---|---|
| **ارګانو کلوراید آفت وژونکي** | لينډين او انډوسلفان دواړه کلورينيټ شوي هايدرو کاربنونه دي او په چاپېريال کې د اوږدې مودې لپاره پاتې کيږي. لينډين يو سرطان زيږوونکی دی چې تناسلي سيستم زيانمنوي. انډوسلفان يو قوي زهرجن دی چې د ډيری وژونکو مسموميتونو او همداشان د مثل د توليد او د جنيتيکي نيمګړتياوو سبب کيږي [۲۴]. دا په چاپېريال کې ډير مقاوم عضوي ککړوونکي دي او پاتې شوني يې په ټوله نړۍ کې لرې له هغو ځايونو چې دا توکي کارول شوي موندل شوي دي. د دوی بيولوژيکي راټوليدنه د کبانو په وجود کې چې د انسانانو د خوړو د رژيم مهمه برخه ده ډيره ګواښنوونکې بلل کيږي. |
| **پی سي بي PCBs** | PCBs د تيروئيډ غدو کوم چې د ميتابوليزم ټولې کړني کنټرولوي، د زيانمولو لپاره پيژندل کيږي [۲۵]. همدا رنګه PCBs د ذهن په پرمختيا، خبرو کولو په وړتيا، حافظه، ليدلو او حرکت کولو په فعاليتونو باندې اغيزې لري [۲۶]. PCBs د استروجن ميتابوليزم اغيزمنوي او همدا لامل د سرطانونو سبب ګرځي. همدا رنګه د PCBs څخه د اغيزمن کيدو له امله د هډوکو وده او پراختيا له ځنډ سره مخ کيږي [۲۷]. د مسمومو شوو کسانو ډيرې پيښې ښيي چې PCBs د نه اميدواره کيدو او يا د مړه زيږون احتمالات زياتوي، او همداشان د کم وزنه ماشومانو د زيږون لامل هم ګرځيدلی شي، د پوهاوي ځواک کموي او د ذهن د پراختيا مانع ګرځي. د اميدوارۍ په موده کې ددې توکو څخه اغيزمن کيدل د زيږون پر مهال د کوچونيو ټايمس غدو(د معافيت په سيستم کې يو مهم ارګان) او د واکسين پر وړاندې ټيټ غبرګون په معافيتي سيستم کې د هغوی د دخالت ښکارندوی دی [۲۸]. همدا شان د PCB او فيورانونو(PCDF) څخه د اغيزمن شوو او د (Lupus erythematosus) چې يوه خودکاره معافيتي ناروغي ده له امله د مړينې د کچې تر منځ اړيکه شتون لري [۲۹]. |
| **HBB و PBDE** | دا کېمياوي توکي لږ تر څېړنې لاندې نيول شوي دي لاکن د دې توکو څخه د اغېزمن کيدو له امله د تيروئيډ د هڅوونکي هورمون د وينې کچه کمـــيږي په همدې دليل يې په ميتابوليک سيســـتم کې مداخله د PCBs سره يو شان ده[۳۰]. |
| **PFOS پی اف او اس** | PFOS او اړونده مرکبات يې په تناسلي سيستم باندې اغېزې لري. په نورو هيوادونو کې څېړنو ښودلې چې هغه کسان چې په ځنډ سره اميدواره کيږي او سپرم يې تر عادي حالت کم دي په سپينو او سرو کروياتو کې يې په زياته کچه PFOS شتون لري [۳۱]. ځينې نورې څېړنې په پرمختيايي برخه کې د دې توکو ګواښونه ښيي: مخکې له اميدوارۍ نه د PFOS او PFOA څخه د اغيزمن کيدو او د جنين د ودې د کميدو تر منځ اړيکې شتون لري همدا شان د ماشوم د اندازې او وزن او په سپينو کروياتو کې د PFOS او PFOA د غلظت تر منځ مستقيمه اړيکه شتون لري [۳۲]. په هغو ماشومانو کې چې په کروياتو کې يې په زياته کچه PFOS او اړونده توکي يې شتون لري له اندازې زيات د توجه نه کولو (ADHD) ناروغۍ فريکونسي ډيره تر سترګو کيږي [۳۳]. |
| **PCDD و PCDF** | ډای اکسينونه او فيورانونه د يو شمېر خطرناکو ناروغيو سره اړيکې لري چې پکې معافيتي ناروغۍ، د ځيګر ناروغۍ، او کلورکني (د پوستکي يوه ناروغي) شاملې دي [۳۴]. هغه ميندې او پلرونه چې د ډای اکسين څخه اغيزمن شوي دي په ماشومانو کې يې ډيرې جدي اغېزې لري. د بېلګې په ډول، د ويتنام په جګړه کې هغه سرتيري چې د اضافي واښو د له منځه وړلو په موخه د ډای اکسين څخه اغيزمن شوي وو يو زيات شمير معلول، نقصان شوي او يا هم مړه ماشومان يې وزيږول. همدا راز ګمان کيږي چې دوی د سرطان زيږوونکې هم و اوسی او د ژيړي په ۲ ډول د اخته کيدو ګواښ زياتوي [۳۵]. په بله پيښه کې، هغه هلکان چې ميندې يې د اميدوارۍ په وخت کې د دې توکو څخه اغيزمنې شوې دي د پلار کيدو امکان يې کم دی [۳۶]. همدا رنګه د دې توکو څخه اغيزمن شوي کسان د PCBs او PCDFڅخه د اغيزمن شوو کسانو په څير د Lupus erythematosus ناروغۍ چې يوه خودکاره معافيتي ناروغي ده پيښې پکې ډيرې ليدل کيږي. |

24. Carpenter, D.O. (Ed). (2013). *Effects of Persistent and Bioactive Organic Pollutants on Human Health.* Hoboken: Jon Wiley & Sons, Inc.
25. Ibid.
26. Ibid.
27. Ibid.
28.Ibid.
29. Ibid.
30. Ibid.
31. Ibid.
32. Ibid.
33. Ibid.
34. Ibid.
35. Ibid.
36. Ibid.

## ۳.۴ چاپېريالي اغېزې

د کېمیاوي توکو د طبیعت او چلند له امله په افغانستان کې د POPs د اغېزو پراخه چاپيريالي ارزونه ستونزمنه ده، خو بیا هم ځمه کېږي چې د افغانستان د اوبو ارزښتناکه سرچینو ته د مقاومو عضوي ککړوونکو POPs لار موندنه زیانمنوونکې اغېزې له ځانه سره ولري. د ناپاکو اوبو د تصفيې نشتون په دې معنا ده چې POPs به د فاضلابو له لارې اوبو په خاصه توګه د ځمکې لاندې اوبو ته لاره ومومي. بزګران د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره د سیندونو په اوبو تکیه کوي که چېرې دا اوبه په کېمیاوي توکو ککړې شوې وي نو دا مواد به خاورو ته لاره پيدا کړي او له همدې لارې به بیاهم د انسانانو د خوړو کړۍ ته لاره ومومي.

د افغانستان د پينځو اصلي سيندیزو حوزو له ډلې یوازې د کابل سیند دی چې اوبه یې سمندر ته رسیږي. د آمو د سیندیزې حوزې اوبه د اورال په تخریب شوې بحیره کې توئیږي په داسې حال کې چې د نورو سیندیزو حوزو اوبه په هيواد کې د ننه په ډنډونو کې چې د هيواد د ژوند د تنوع لپاره خورا ارزښت لري جذبیږي او یا هم د ځمکو په خړوبولو کې ورځخه ګټه اخیستل کیږي. په دواړو حالاتو کې د مقاومو زهري کېمیاوي توکو تجمع او راټولیدنه ډیره ګواښنوونکې ګڼل کیږي.

## ۳.۵ پایله

د مفصلو څېړنو او طبي احصائیو په نشتون کې د افغانستان د وګړو په روغتیا باندې د POPs د اغېزو څېړل په کمي لحاظ ناشونې برېښي. خو بیا هم لکه څرنګه چې پورته ووېل شول دا ممکنه ده چې د ګواښونو محدودې ته کوم چې د دې توکو څخه د اغېزمن کېدو له امله منځ ته راځي پام وشي.



ککړې اوبه د کابل سیند ته تخلیه کېږي. © انډریو هاروي، د ملګرو ملتونو د چاپیریال پروګرام.

٤

# د قوانینو ارزونه



# د قوانینو ارزونه

## ۴.۱ په افغانستان کې د چاپېریال پالیسي

په افغانستان کې چاپېریالي پالیسي د چاپیریال د قانون په اړه کوم چې په ۲۰۰۷ زیږدیز کال کې تصویب شو جوړه شوې ده. په دې پالیسی کې د چاپیریال ساتنې ملي اداره په هیواد کې د چاپیریال اړونده موضوعاتو او د دولت په ټولو ادارو کې د چاپېریالي قوانینو او پالیسیو د ټاکلو مسئوله ښودل شوې ده. د دولت ټولې څانګې د چاپېریالي قوانینو او پالیسیو پر وړاندې مسئولیتونه لري خو د چاپېریال ساتنې ملي اداره (NEPA) د ټولو په سر کې واقع ده.

د چاپېریال قانون په ۱۳ بنسټیزو اصولو ولاړ دی او د نهو (۹) څپرکو او ۷۸ مادو درلودونکی دی چې د هیواد ټولې مهمې چاپېریالي اندیښنې پکې په پام کې نیول شوې دي. د بېلګې په ډول: څلورم څپرکئ د ککړتیاوو د کنټرول او د پاتې شونو د مدیریت مقررې معرفي کوي. په داسې حال کې چې په شپږم څپرکي کې د ژوند په تنوع، ساتنه او د طبیعي زېرمو په مدیریت باندې پام شوی دی[37]. په ټولیزه توګه؛ د چاپېریال قانون د چاپېریال ساتنې د ملي اداري اړیکې او واکونه څرګندوي او د دې اداري رول د افغانستان د چاپېریالي پالیسیو په جوړولو، پلي کولو، تنظیمولو او څارنه او همدا رنګه د نړیوالو چاپېریالي مرستو د همغږې کوونکې اداري په توګه منعکس کوي. د دولت له نورو ادارو سره د چاپېریالي موضوعاتو په اړه د لا ډېرې همغږۍ په موخه د چاپېریال قانون د چاپېریالي همغږۍ کمېټه (CEC) او ملي مشورتي چاپېریالي شورا (NEAC) جوړې کړې دي. افغانستان د چاپېریال د ساتنې د ۱۶ څو اړخیزه چاپېریالي هوکړه لیکونو غړی دی ( لاندې، ۳ چوکاټ وګورئ).

**۳ چوکاټ: هغه نړیوال څو اړخیزه چاپېریالي هوکړه لیکونه چې افغانستان یې غړیتوب لري**

| شمېره | د نړیوال څو اړخیزه چاپېریالي هوکړه لیک نوم | د پیوستون نیټه |
|---|---|---|
| ۱ | د ګواښ سره مخ ډولونو وحشي فیونا او فلورا د نړیوالې سوداګرۍ په هکله کنوانسیون (CITES) | ۲۸ جنوري ۱۹۸۶ |
| ۲ | د ملګرو ملتونو د ژوند د بدلون په هکله کنوانسیون (UNCBD) | ۱۹ سپټمبر ۲۰۰۲ |
| ۳ | د ملګرو ملتونو د صحرایي کېدو سره د مبارزې په هکله کنوانسیون (UNCCD) | ۰۱ نوامبر ۱۹۹۵ |
| ۴ | د ملګرو ملتونو د اقلیم بدلون چوکاټې کنوانسیون (UNFCCC) | ۱۹ سپټمبر ۲۰۰۲ |
| ۵ | د اوزون لایې د ساتلو لپاره د ویانا کنوانسیون | ۱۷ جون ۲۰۰۴ |
| ٦ | د اوزون لایې د ویجاړوونکو توکو په هکله د مانتریال پروتوکول | ۱۷ جون ۲۰۰۴ |
| ۷ | د ملګرو ملتونو د اقلیم بدلون چوکاټې کنوانسیون ته د کیوتو پروتوکول | ۲۵ مارچ ۲۰۱۳ |
| ۸ | د بایوسیفټي په هکله د ملګرو ملتونو د ژوند بدلون کنوانسیون ته د کارتاجینا پروتوکول | ۲۰ جنوري ۲۰۱۳ |
| ۹ | په نړیواله سوداګرۍ کې د ځینو ګواښ پېښوونکو کېمیاوي توکو او آفت وژونکو لپاره د له وړاندې خبراوي په کړنلاره باندې د روټردام کنوانسیون | ۰۶ مارچ ۲۰۱۳ |
| ۱۰ | د مقاومو عضوي ککړوونکو په هکله د سټکهلم کنوانسیون | ۲۰ فبروري ۲۰۱۳ |
| ۱۱ | د کډوالو ډولونو د ساتنې په هکله کنوانسیون | ۰۱ اګسټ ۲۰۱۵ |
| ۱۲ | د ګواښ پېښوونکو پاتې شونو او ددوی د مدفوعاتو د پولې ها خوا لېږد په هکله د بسل کنوانسیون | ۲۵ مارچ ۲۰۱۳ |
| ۱۳ | رامسر کنوانسیون | په لړۍ کې |
| ۱۴ | جینیټیکي سرچینو ته د لاسرسي او د ګټو د منصفانه او مساوي ویش په اړه د ناګویا پروتوکول | ۱۷ جنوري ۲۰۱۷ |
| ۱۵ | د سیمابو په هکله د میناماټا کنوانسیون | ۲ می ۲۰۱۷ |
| ۱٦ | د اقلیم بدلون په اړه د پاریس هوکړه لیک | ۱۵ فبروري ۲۰۱۷ |

37. NEPA & UNEP. (2015). *Climate Change and Governance in Afghanistan*. Kabul: National Environmental Protection Agency & United Nations Environment Programme.

## ۴.۲ دولتي اداري او د مقاومو عضوي ککړوونکو د پالیسیو د پلي کولو په برخه کې یې مسئولیتونه

که څه هم د چاپېریال ساتنې ملي اداره (NEPA) د افغانستان پر چاپېریال د څارنې لومړنۍ اداره ده، هغه برخې چې پکې مقاوم عضوي ککړوونکي موندل کېږي، ډېرې زیاتې دي ځکه نو په ټول هېواد کې د دې کېمیاوي توکو د چاپېریالي او روغتیایي ګواښونو د اغېزمنې راټیټونې په برخه کې همغږو هڅو ته اړتیا شته. ترټولو اړونده اداري او د دوی مسولیتونه په څلورم چوکاټ کې لنډ شوي دي.

| ۴ چوکاټ: دولتي اداري او د مقاومو عضوي ککړوونکو د پالیسیو د پلي کولو په برخه کې یې مسئولیتونه | | |
|---|---|---|
| # | اداره | مسئولیت |
| **وزارتونه** | | |
| ۱ | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) | د آفت وژونکو مقره |
| ۲ | د اوبو او برېښنا وزارت (MEW) | د اوبو کیفیت او د انرژۍ پالیسي چې په چاپېریالي موضوعاتو پورې اړه لري. |
| ۳ | د مالیې وزارت (MoF) | ګمرکي خدمتونه؛ د توکو د صادراتو او وارداتو کنټرول. |
| ۴ | د عامې روغتیا وزارت (MoPH) | د ټولو کلینیکونو او روغتونونو تنظیم د کلینیکي پاتې شونو د له منځه وړلو لپاره د سټنډرډونو په شمول. |
| ۵ | د لوړو زده کړو وزارت (MoHE) | د پوهنتونونو او لوړو زده کړو د نورو موسسو څارنه او د پوهنتونو د روزنیزو پروګرامونو ټاکل. |
| ٦ | د کورنیو چارو وزارت (MoIA) | د افغانستان د ملي پولیسو مسئول څوک چې د قانون پلي کوونکي او د اور وژنې خدمتونه وړاندې کوي. |
| ٧ | د کانونو او پټرولیم وزارت (MoMP) | د کانونو او پټرولیم د برخې تنظیموونکی. |
| ٨ | د ټرانسپورټ وزارت (MoT) | عامه ټرانسپورټ، ځمکنۍ او هوایي. |
| ۹ | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت (MoCTI) | صنعتي پالیسۍ |
| ١٠ | د کور او ښار جوړونې وزارت (MoUDH) | ښاري پالیسۍ او پلانونه، او د پاتې شونو مدیریت. |
| **د دولت خپلواکې اداري** | | |
| ١١ | د چاپېریال ساتنې ملي اداره (NEPA) | د چاپېریال قانون او پالیسي. |
| ١٢ | د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره (IDLG) | ښاروالۍ د ښاري عامه خدمتونو، د جامدو پاتې شونو د له منځه وړلو او ورو سوداګریو ته د جواز ورکولو مسئولې دي. |
| ١٣ | د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره (AISA) | د قانون سره سم د سوداګریو راجسټرکول او د صنعتي پارکونو مدیریت. |
| ١۴ | د افغانستان د ملي سټنډرډ اداره (ANSA) | د مصرفي توکو لپاره د ملي معیارونو ټاکل. |
| ١۵ | د احصایې مرکزي اداره (CSO) | د ملي احصایوي معلوماتو راټولول او خپرول. |
| ١٦ | د افغانستان برېښنا شرکت (DABS) | د برېښنا د واردولو، تولید او لېږد مسئولیت. |
| ١٧ | د افغانستان د ښاري اوبو رسولو او کانالیزاسیون شرکت (AUWSSC) | د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو د دفع کولو ساتنه او پراختیا |

## ۴.۳ د مقاومو عضوي ککړوونکو د مدیریت په تړاو د وزارتونو ترمنځ د مسئولیتونو جوړښت

| ۵ چوکاټ: د مقاومو عضوي ککړوونکو د مدیریت په تړاو د وزارتونو ترمنځ د مسئولیتونو جوړښت | | |
|---|---|---|
| # | بین الوزارتي جوړښت | مسئولیت |
| ۱ | د چاپیریالي همغږۍ کمیټه (CEC) | په ملي پرمختیایي پالیسیو کې د چاپیریالي موضوعاتو د شاملولو په اړه لارښوونه، په چاپیریالي مسئلو باندې د دولتي ادارو د استازو د سپارښتنو شریکول او ارزونه، او په ملي او ولایتي کچه د اړونده اړخونو ترمنځ د چاپیریالي کړنو د همغږۍ کولو لپاره لارښوونې. |
| ۲ | د چاپیریال ملي مشورتي شورا (NEAC) | د چاپیریال ساتنې ملي اداري ته د مالي، قوانینو او چاپیریالي موضوعاتو د ملي ارزښت په هکله مشوره ورکول. |
| ۳ | د تلپاتې چاپیریال مشورتي شوراګانې (SEACs) | د مالي چارو په اړه سپارښتنې د بودیجې، کلنیو حسابونو او چاپیریالي مسئلو په ګډون چې محلي ارزښت لري. |
| ۴ | د افغانستان د وحشي ژوو اجراییوي کمیټه (AWEC) | د طبیعت د ساتنې نړیوالې اتحادیې (IUCN) د سیمه ییزو معیارونو څخه په ګټه اخیستنه په ملي کچه افغاني ډولونو ته د ګواښونو ارزونه. |
| ۵ | د چاپیریال په اړه پارلماني کمیټه (PCE) | د چاپیریال اړونده قوانینو ته پاملرنه، چاپیریالي اندیښنو ته رسیدنه کول، او د چاپیریال څارنه، په ځانګړې توګه د چاپیریال قانون په اړه. |
| ٦ | ملي کیمیاوي کاري ډله (NCWG) | د کیمیاوي کنوانسیونونو لپاره د ملي تطبیقي پلانونو جوړول او څارنه. |
| ۷ | د هوا د ککړتیا د مخنیوي عالي کمیسیون | د هوا دککړتیا اړوند د دولت بیلابیلو پالیسیو او کړنو همغږي کول. |

## ۴.۴ د مقاومو عضوي ککړوونکو په مدیریت پورې اړوند قوانین

| ۶ چوکاټ: هغه قوانین چې د مقاومو عضوي ککړوونکو په مدیریت پورې تړاو لري [۳۸] | | | |
|---|---|---|---|
| د اداري نوم | قانون | جریده | کال |
| ANSA | د افغانستان د سټنډرد ملي قانون | ۱۱۰۷ | ۲۰۱۴ |
| CSO | د احصایې قانون | ۱۱۱۰ | ۲۰۱۴ |
| MAIL | د آفت وژونکو قانون | ۱۱۹۰ | ۲۰۱۶ |
| MoF | د ګمرکاتو قانون | ۸۴۷ | ۲۰۰۴ |
| MoMP | د هایدروکاربنونو (ګاز او پترولیم) قانون | ۹۷۲ | ۲۰۰۹ |
| MoMP | د کانونو قانون | ۹۷۲ | ۲۰۰۹ |
| MoPH | د عامې روغتیا قانون | ۹۱۶ | ۲۰۰۷ |
| MoT | د سون توکو د مصرف مقرره | ۱۰۱۵ | ۲۰۱۱ |
| MoCTI | په مصرفي توکو د مالیاتو قانون | ۵۱۷ | ۱۹۸۲ |
| MoCTI | د پانګونې قانون | ۷۹۷ | ۲۰۰۱ |
| MoCTI | د توکو د سوداګرۍ قانون | ۱۰۰۱ | ۲۰۰۹ |
| MoCTI | د سوداګرۍ قانون | نشته | ۱۹۵۵ |
| MoCTI | د سوداګریزو نښو قانون | نشته | ۱۹۶۰ |
| NEPA | د ژوند د چاپیریال قانون | ۹۱۲ | ۲۰۰۷ |

38. MoJ. (n.d.). *Official Gazette of the Islamic Republic of Afghanistan*. Kabul: Ministry of Justice.

پر دې سربېره: د افغانستان د سټنډرډ ملي اداري (ANSA) د مقاومو عضوي ککړوونکو د لاندې څانګو لپاره سټنډرډونه چمتو کړي دي:

- د ودانيزو توکو لپاره ملي سټنډرډ
- د منسوجاتو لپاره ملي سټنډرډ
- د درملو او سينګار وسايلو د توليد لپاره ملي سټنډرډونه
- د الکترونيک او مخابراتو ملي سټنډرډونه
- د چاپېريال ملي سټنډرډونه
- د سون توکو ملي سټنډرډ
- د کېمياوي توکو او پلاستيک لپاره ملي سټنډرډونه

## ۴.۵ د آفت وژونکو مقرره

د آفت وژونکو مقرره د ۲۰۱۶ کال د آفت وژونکو د قانون په واسطه اداره کېږي. دا مقرره د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته د آفت وژونکو توکو د توليد، سوداګرو او واردوونکو د راجسټر کولو مسووليت ورکوي. قانون د راجسټر کولو کمېټه چمتو کوي چې وزير ته مشوره ورکړي.

## ۴.۶ د صنعتي کېمياوي توکو مقرره

ټولې لويې سوداګرۍ بايد د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو وزارت (MoCI) سره چې د چاپېريال قانون سره يې د سمون ډاډ ورکوي ثبت وي، د صنعتي تصديو لپاره د چاپېريالي اغېزو ارزونه چې د چاپېريال ساتنې د ملي ادارې له لوري منله شوې وي هم شامله ده. دا د هرې هغې پروسې مخنيوی کوي چې پکې له مقاومو عضوي ککړوونکو څخه ګټه اخيستل کېږي.

د چاپېريال ساتنې ملي ادارې د څارنې او ارزونې څانګه فابريکو ته ځي او څارنه کوي ترڅو د چاپېريال د قانون سره سم د فعاليت څخه ډاډ ترلاسه کړي. د چاپېريال ساتنې ملي ادارې د چاپېريالي اغېزو د ارزونې او څارنې او تفتيش رياستونو کارکوونکي به د ملي تطبيقي پلان سره د سمون لپاره په ځانګړي ډول له تخنيکي اړخه روزنې ته اړتيا ولري. د څارنې او ارزونې رياست د قانون د پلي کولو لپاره د کافي سرچينو د کمبود له ستونزو سره مخ دی.

د بازارونو په کچه کوچوني ورکشاپونه له ښاروالیو سره ثبت دی خو د چاپېريال سره د سمون په اړه يې لږ څارنه کېږي.

## ۴.۷ د غير قصدي (جانبي) توليداتو مقرره

په افغانستان کې د مقاومو عضوي ککړوونکو ډېری توليد د سون توکو او پاتې شونو د پوره نه سوځېدلو له امله دی. له همدې امله دوی ته د هوا د ککړتيا په مقرره کې ځای ورکړل شوی دی. د چاپېريال قانون لاندې د هوا د ککړتيا د مخنيوي عالي کميسيون شتون لري (۵ چوکاټ وګورئ)، په کوم کې چې د دولت ۱۹ وزارتونه او ادارې استازي لري. په اوس وخت کې دا کميسيون د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اجرائيه رييس لخوا اداره کېږي. د دې کميسيون رول د دولت د بيلابيلو پاليسيو او کړنو همغږي کول دی. دا کار د اړونده وزارتونو او ادارو له خوا سرته رسېږي.

د پاتې شونو (کثافاتو) د سون ماشينونو او صنعتي بټيو څخه څارنه د چاپېريال ساتنې ملي ادارې دنده ده. د سون توکو کيفيت چې د هوا په ککړتيا کې يوه برخه جوړوي د افغانستان د ملي سټنډرډ ادارې لخوا تنظيمېږي. واړه ورکشاپونه چې ممکن د فلزاتو د ويلې کېدو پروسې پکې وکارول شي کوم چې مقاوم عضوي ککړوونکي منځ ته راوړي په اغيزمن ډول نه دي تنظيم شوي. د افغانستان د سټنډرډ ملي ادارې د وارداتي عراده جاتو لپاره هم معيارونه ټاکلي دي. د افغانستان د سټنډرډ ملي اداره ښايي د مقاومو عضوي ککړوونکو د توليد د کمولو لپاره د معيارونو د ټاکلو په برخه کې نورو تخنيکي معلوماتو ته اړتيا ولري.

د پاتې شونو ډېرانونه ممکن د سوځولو په وجه مقاوم عضوي ککړوونکي توليد کړي او يا پکې په مقاومو عضوي ککړوونکو ککړ توکي لکه مصنوعي فرشونه شتون ولري. دوی د ښاروالیو لخوا مديريت کېږي او د چاپېريال ساتنې ملي اداره يې څارنه کوي.

د بخاريو په مرسته د کورونو تودول، همدا شان په برېښنا شبکې کې د نيمګړتياوو له امله د برېښنا د وړو جنراتورونو کارول د هوا دککړتيا سترې سرچينې دي. د دوی د تنظيم لپاره تر اوسه کوم قانون شتون نلري، که څه هم افغانستان په دولتي ادارو کې د لرګيو د بخاريو کارونه بنده کړې ده او پر ځای يې له ګازي بخاريو څخه د تودولو په موخه ګټه اخلي.

د مقاومو عضوي ککړوونکو ور ها خوا د کلينيکي پاتې شونو له منځه وړل بله ستونزه ده، مګر ناسمه سوځونه يې کېدای شي چې د ډای اکسين اړوند توکي توليد کړي. د عامې روغتيا وزارت دا واک لري ترڅو هغه روغتونونه وټري کوم چې د کلينيکي پاتې شونو د له منځه وړلو د مقرراتو سره سم فعاليت نه کوي. لوړپوړي چاړواکي ممکن د مقاومو عضوي ککړوونکو په تړاو ستونزو په هکله روزنې ته اړتيا ولري.

په اوس وخت کې د چاپېريال ساتنې ملي اداره داسې توکي او تجهيزات نه لري چې د مقاومو عضوي ککړوونکو خپرېدل اتموسفير ته تشخيص او اندازه کړي.

## ۴.۸ د وارداتو مقرره

د سرحدي بندرونو له لارې د توکو د واردولو کنټرول د ماليې وزارت په چوکاټ کې د ګمرکي خدمتونو دنده ده. کنټرول د نړيوال همغږي سيستم (HS) د کوډونو سره سم ترسره کېږي. نړيوال کوډ شپږ رقميز دی کوم چې پراخې کټګورۍ تعريفوي، لکه ټول آفت وژونکي 38 08 91 دي. ځينې هېوادونه شايد څلور نور رقمونه هم دې کوډ ته ور کړي. په افغانستان کې دا کوډ د تعرفې ځانګړی کوډ (TSC) دی.  ګمرکي خدمات تمه لري چې د (TSC) په کارولو سره به د مقاومو عضوي ککړوونکو درلودونکي توکي وپېژني. د ګمرکاتو کارکوونکي به د مقاومو عضوي ککړوونکو اړوندو قوانينو او مقرراتو د پلي کولو په برخه کې روزنې ته اړتيا ولري. ګمرکي خدمات يو لابراتوار لري چې د ګمرکونو د نړيوال سازمان له خول ډيزاين شوی دی چې شپږ تنه مسلکي کارکوونکې او يو رئيس لري. دا لابراتوار به په ګازي کروماتو ګرافي (GC) او ډله ييزه سپيکټروسکوپۍ (MS) سمبال شي. په تدارکاتي بسته کې د لابراتوار د کارکوونکو روزنه شامله ده.

## ۴.۹ د پاتې شونو (کثافاتو) د له منځه وړلو مقرره

ډېری پاتې شوني د جامدو ښاري پاتې شونو (MSW) په څېر کنل کېږي او د پاتې شونو د له منځه وړلو په ځايونو کې ښخېږي. دوی د ښاروالۍ د چارواکو لخوا اداره کېږي او د چاپېريال ساتنې د ملي ادارې لخوا يې څارنه کېږي. په دوی کې د زړو توکو يوه پراخه اندازه شتون لري لکه فرشونه او فرنيچر کوم چې ممکن په خپل جوړښت کې مقاوم عضوي ککړوونکي ولري او يا وروسته له سوځولو او يا تجزيه کېدو څخه مقاوم عضوي ککړوونکي توليد کړي.

ډېری د کثافاتو د ښخولو ځايونه په سم ډول نه دي جوړ شوي له همدې امله له هغوی څخه د ګواښ زېرووونکو فاضلابو (ککړو اوبو) د خپرېدو امکان زيات دی. دوی همدا رنګه پخپل سر د ميتان ګاز هم سوځوي کوم چې امکان لري هوا ته مقاوم عضوي ککړوونکي آزاد کړي. د چاپېريال ساتنې ملي اداره تنظيم کوونکې اداره ده مګر د کثافاتو د دفع کولو لپاره د عملي حل لارو وضع کول ستونزمن برېښي.

## ۴.۱۰ د مقاومو عضوي ککړوونکو د مديريت لپاره د ظرفيتونو(وړتياوو) لنډيز

افغانستان د چاپېريال د تنظيم لپاره يو ښه اداري او قانوني جوړښت لري او دا د مقاومو عضوي ککړوونکو سره په چلند کې کافي مرسته کوي. لکه څرنګه چې د مقاومو عضوي ککړوونکو مديريت يوه څو اداره ييزه دنده ده، نو په ټولو ادارو کې کارکوونکي به د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) په هکله د پوهاوي، روزنې او سربېره پر دې ممکن د دوی د رول د اغيزمن کولو لپاره نورو ځانګړو تخنيکي روزنو ته اړتيا ولري. په هر صورت، پلي کوونکې اداري د کارکوونکو او سرچينو د کمبود سره مخامخ دي، او هغه معلومات چې دوی يې راغونډوي په داسې طريقه نه دي کمپيوټري شوي چې د مديريت لپاره مناسب او کافي معلومات ورکړي.

اوس مهال په افغانستان کې داسې لابراتوار نه دی پېژندل شوی چې د مقاومو عضوي ککړوونکو لپاره توکي وڅېړي. په همدې دليل، هرډول نمونه د اړتيا په صورت کی بايد د څېړنې لپاره بهر ته واستول شي.

سربېره پر دې، د ککړتيا لويې سرچينې لکه د پاتې شونو له منځه وړل او د کورونو تودول ډېرې لويې دي او د سترو بنسټيزو پرمختګونو پرته له دوی څخه د مقاومو عضوي ککړوونکو د خپرېدو د پام وړ راټيټول په سختۍ سره شوني برېښي. ځکه نو د مقاومو عضوي ککړوونکو څخه راولاړې شوې ستونزې بايد په انزوا کې ونه ليدل شي. د مقاومو عضوي ککړوونکو توليد د عمومي ککړتيا يوه برخه ده چې په کې د اوزون د لاېې ويجاړوونکي کېمياوي توکي، ګلخانه يي (شين کوريزه) ګازونه او نور توکي چې روغتيا ته زيان رسوي لکه درانده فلزات او ذرات يې شامل دي.

۵

# د مقاومو عضوي ککړوونکو ملي نوملړ



# د مقاومو عضوي ککړوونکو ملي نوملړ

## ۵.۱ آفت وژونکي (ډي. ډي. ټي، توکزافين، ډاي الډرين، کلورډن، پينټا کلورو فينول له اړوندو مالګو او ايسترونو سره، الدرين، ايندرين، هيپټا کلور، ميريکس، کلور ديکان، هګزا کلورو بنزين له اړوندو ايزوميرونو او تخنيکي اندوسلفان سره)

الف. پيليز حالت

سره له دې چې د سټکهلم کنوانسيون له خوا د ملاريا د مخنيوي لپاره د (ډي. ډي. ټي( کاروني ته اجازه ورکړل شوې، خو افغانستان له دې معافيت څخه هېڅ راز ګټه نه ده اخيستې او هېڅکله د عامې روغتيا وزارت د ملاريا د پروګرام د يوې برخې په توګه نه دي کارول شوي. د اندوسلفان د ډير لږ شمېر نا قانونه وارداتو پرته، د دې څانګې نور آفت وژونکي، اوس مهال په افغانستان کې نه کارول کيږي. د اندېښنې وړ خبره، تر ۱۹۸۰ زيږديز کلونو پورې د ملخانو د کنټرول د کمپاين هغه پاتې شوني دي چې د افغانستان په شمالي ولايتونو کندوز، سمنګان، بغلان، بلخ، جوزجان، بادغيس او هرات کې شتون لري، په دې ولايتونو کې د (⊠-HCH) پوډر چې د هغه وخت د شوروي اتحاد (USSR) له خوا خلکو ته ډالۍ شوي وو، کارول شوي دي. د څو لسيزو په ترڅ کې په زرګونو ټنو دا توکي افغانستان ته وارد شوي چې په هرات، مزار شريف او کندوز کې په لويو زېرمو کې ساتل کيدل. دا زېرمې د ۱۹۹۰ کلونو په اوږدو کې لوټ شوې چې برخليک يې څرګند نه دی. دا زېرمې پخپله ککړې وې او لا هم ککړې پاتې دي. هغه سيمې چې د دې کمپاين تر پوښښ لاندې راغلې، ډيری يې موسمي څړځايونه وو، چې له يوه کال څخه بل ته پخپل حال پاتې کيږي څکه نو امکان لري چې تر اوسه ککړ پاتې وي. دا هم شونې ده چې (HCH) په ککړو سيمو کې د څارويو د څړولو له لارې د خوړو کړۍ ته ننوزي.

ب. تکلاره

د خاورې د نمونې د ارزونې او څېړنې له يوه پراخ پروګرام پرته، په هېواد کې د (HCH) د کچې معلومول ناشونی کار دی. له هغې راهيسې چې دا توکي په پراخه کچه کارول شوي، تر اوسه له ۳۰ کلونو څخه ډېره موده تېره شوې ده.

ج. پايله

سره له دې چې ښايي په هغو سيمو کې چې تصفيه شوې وې د دې توکو پاتې شوني له مينځه تللي وي، خو بيا هم هغه سيمې چې دا توکي پکې ساتل کيدل بايد ککړې وبلل شي. دا سيمې په هرات، مزار شريف او کندوز ښارونو کې موقعيت لري.

## ۵.۲ پولي کلورينيټ شوي بای فينايلونه (PCBs)

الف. وضعيت ابتدايی

الف: پيليز حالت

د جګړې تر کلونو وړاندې کارول شوي بريښنايي توکي په هېواد کې د صنعتي (PCBs) تر ټولو ستره سرچينه بلل کيږي. د بريښنا د ويش ډيری سيستمونه د جګړو په کلونو کې له مينځه ولاړل او اوس يې ځای داسې پرمختللو توکو نيولی چې (PCBs) پکې نه کارول کېږي. خو بيا هم، د هېواد په ځينو سيمو کې له جګړې څخه د مخکې کلونو ټرانسفارمرونه شتون لري.

ب: ميتودولوژي (تکلاره)

له مسئولې اداري )د افغانستان برېښنا شرکت( څخه وغوښتل شول، ترڅو د خپلو زړو توکو د زيرمو او هغو سيمو په اړه چې سب ستيشنونه پکې له مينځه تللي او سيمې ککړې شوې دي، معلومات چمتو کړي.

ج: پايله

يادې سيمې په لاندې ډول دي:

- د کابل په ختيځ سب ستيشن کې د ۲۰ ميګا ولټ ظرفيت درلودونکی غير فعال روسی ټرانسفارمر شتون لري .
- د کابل په شمال، سوېل ختيځ او لوېديځو سيمو کې شاوخوا ۳۳۳۰ زاړه روسي، پاکستاني، بلغاريايي، ختيځ جرمني او زېمنس ټرانسفارمرونه شته چې د منځنۍ کچې ولتيج لري او اوس هم ورڅخه کار اخيستل کيږي.
- ۶ زاړه او زيانمن شوي ټرانسفارمرونه په کندهار کې شتون لري.
- د کابل ښار د هود خيلو کلي په ختيځه څنډه او برېښناکوټ کې هم ويجاړ شوي سب ستيشنونه شتون لري.

د جګړې څخه د مخکې کلونو راپاتې ډېر شمېر ټرانسفارمرونه لویه ستونزه ده. د دې ټرانسفارمرونو یو شمېر اوس هم کارول کیږي. اړینه ده یوه داسې سروې وشي چې د دې ټرانسفرمرونو او سب سټیشنونو د (PCB) د ککړتیا کچه معلومه کړي. (لومړۍ ضمیمې ته، د سروې د مناسب فورم د لیدلو په موخه مراجعه وکړئ).

## ۵.۳ ډاي اکسینونه (پولي کلورینیټ شوي ډاي بینزو پي ډاي اکسینونه پي سي ډي ډي)، فیورانونه (پولي کلورینیټ شوي ډای بینزو فیورانونه پي سي ډي اف) او (PCBs) د غیر قصدي تولیداتو په بڼه

الف: پیلیز حالت

ډای اکسینونه، فیورانونه او PCB تقریباً ورته کورنۍ لري، خو د زهري خواصو له اړخه یو له بل سره توپیر لري. پر همدې دلیل یې ټولیز خپرېدل په زهري معادل ګرام (TEQ) سره ښودل کېږي. د بېلابېلو کورنیو اندازې د زهرجنتوب له یوه عامل سره چې په تر ټولو زهرجنه کورنۍ پورې اړه لري ضربېږي. د یوې کورنۍ د نیمايي (TEQ) به ۰.۵ وي که چېرې د تر ټولو زهرجن سره یوشان وی. د مختلفو کورنیو د خپرېدو اندازې د هغوی له اړونده (TEQs) سره ضربېږي او د ټولو د جمع حاصل یې (gTEQ) بلل کېږي.

د مقاومو عضوي ککړوونکو د غیر قصدي تولید سرچینې په لاندې نهه ډلو ویشل شوې دي:

۱. د پاتې شونو سوځونه

۲. د اوسپنیزو او غیر اوسپنیزو فلزاتو تولید

۳. د تودوخې او برېښنا تولید

۴. د منرالي محصولاتو تولید

۵. ټرانسپورټ

۶. د پرانیستې سوځونې بهیر

۷. د کېمیاوي او مصرفي توکو تولید

۸. بیلابیل توکي

۹. دفع شوي (له منځه وړل شوي) توکي

ج: تګلاره

د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام د بېلابیلو برخو د کړنو د (gTEQ) د معلومولو لپاره د توکو یوه ټولګه جوړه کړې ده. د بېلګې په ډول: د ضعیفې ټکنالوژۍ پر مټ چې د هوا د ککړتیا د مخنیوي ورتیا نلري د ۱۰۰۰ ټنه ښاري جامدو پاتې شونو د سوځولو له امله به (gTEQ 350) په هوا کې خپاره شي. په راتلونکې برخه کې د هوا د غیر قصدي ککړتیا د هرې سرچینې د حالت او دغه راز د څېړنې د هغې مېتودونو په اړه اجمالي بحث شوی کوم چې د هوا د ککړوونکو توکو په لیست کې د شاملولو په موخه د معلوماتو د راټولولو په برخه کې د پلې کېدلو وړ دي.

| د غیر قصدي تولیداتو سرچینې | د څارنې او څېړنې میتودونه |
|---|---|
| د پاتې شونو سوځول | جامد ښاري پاتې شوني نه سوځول کېږي. طبي پاتې شوني باید د ساري مایکرو ارګانیزمونو د لېږد د ګواښ له امله وسوځول او بیا له منځه یوړل شي. ډېری روغتونونه ساده ډیزلي سوځوونکي لري کوم چې له بده مرغه په مناسبه لوړه تودوخه کې عمل نه کوي تر څو د ډای اکسینونو او فیورانونو د تولید څخه مخنیوی وکړي. په بامیانو کې نوی جوړ شوی روغتون په پرمختللې ټکنالوژۍ سوځوونکو سمبال دی کوم چې د نړۍ له ټولو سټنډرډونو سره سم دی. د عامې روغتیا وزارت دا مهال یوه پروژه لري چې دولتي روغتونونه په پرمختللو طبي سوځوونکو سمبال کړي لاکن ددې لپاره کافي سرچینې نه لري. په کابل کې یوه سوداګریزه کمپنۍ پرمختللي سوځوونکي لري چې د شخصي روغتونونو لپاره خدمتونه وړاندې کوي.<br><br>د طبي پاتې شونو د شته سوځوونکو د خدمتونو په اړه نورو معلوماتو ته اړتیا شته، په خاص ډول په کابل کې. د طبي کثافاتو د سوځولو د سروې لپاره چې کوم فورم جوړ شوی دی په لومړۍ ضمیمه کې شتون لري. د دې سرچینې څخه خپرېدل به له هغه څه نه ډیر لوړ وي کوم چې اټکل یې شوی دی که چېرې یې ټکنالوژۍ تر هغه څه چې سوچ شوی دی ټیټې وي. |
| اوسپنیز او غیر اوسپنیز فلزي تولیدات | له اوسنیو شته معلوماتو څخه داسې ښکاري چې په افغانستان کې اکثره فلزي تولیدات په خپل جوړښت کې د ټیټ کیفیت لرونکي ریسایکل شوي (بیا موندل شوي) خراب محصولات لري لکه د پخلي لپاره المونیمی د بخار دیګونه او په ودانیزو کارونو کې کارول شوې فولادي میلې. تر اوسه یې د اندازې په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. هغه ټکنالوژۍ چې ددوی لپاره کارېږي ډیرې ټیټې دي او د ککړتیا کچه یې ډیره لوړه ده. د توکو په ټولګه کې ددې کړنو لپاره هیڅ کومه اندازه نه ده شامله شوې. ددې فعالیت لپاره د سروې لپاره فورم جوړ شوی دی او په لومړۍ ضمیمه کې راغلی دی. |
| د تودوخې او برېښنا تولید | د افغانستان برېښنا شرکت د خپلو فوسیلی سون توکو د برښنایي سټیشنونه د تولید (MWhrs) په هکله ډیټا وړاندې کړه. د کورونو د تودولو او پخلي په اړه د سون توکو د ګټه اخیستلو اندازه د آسیا پراختیایي بانک، د افغانستان لپاره د ګلخانه یي ګازونو د نوملړ (۲۰۰۷) څخه اخیستل شوې ده. دوی د توکو د ټولګې (ټولکیټ) لپاره تېرا ژول (Tj) ته اړول شویدي. امکان لري چې دا ډیټا د اوسنۍ کارونې څخه کمه وي، مګر د فرعي سکټورونو څخه د خپرېدو د مقیاس یوه نښانه راکوي. د برېښنا سټیشنونو، نانواییو او په کورونو کې د سون توکو د سروې لپاره فورم جوړ شوی دی او په لومړۍ ضمیمه کې راغلی دی. |
| د منرالي محصولاتو تولید | ودانیزې چارې د افغانستان د اقتصاد اصلي سرچینه او د کسب او کار مهمه برخه ده، د ودانیزو چارو توکو ته په غوښتنه کې د پام وړ لوړوالی راغلی دی. ددې لپاره په سنتي (دودیزو) بټیو کې د خښتو تولید یوه ستره برخه جوړوي. امکان لري چې په دې بټیو کې مخلوط شوي سون توکي وسوځول شي چې پکې ربړ، ټایرونه، د لرګیو سکاره، پلاستیکونه، تیل او تقریباً ټول کم مصرفه سون توکي شامل وي. دغه توکي د هوا د ککړتیا لویه سرچینه جوړوي. د نړیوال بانک د اټکل له مخې په هېواد کې تر ۲۰۰۰ ډېرې د خښتو بټۍ شتون لري او په کال کې دوی ۷ میاشتې فعالیت کوي او په میاشت کې یې اعظمي تولید ۲۰۰۰۰۰خښتې دی. چې له یو میلیون ټنو سره برابر دی. که چېرې اغېزمن محصول ۵۰٪ فرض کړی شي، نو ۵۰۰۰۰۰ ټنه به مصرف شوی وي. د دودیزو ښیښه یي ګیلاسونو یوه وړه فابریکه په هرات ولایت او د دودیزې کلالۍ یوه فابریکه په استالف کې شتون لري، مګر دا فابریکې په څرګند ډول د مقاومو عضوي ککړوونکو په خپرېدو کې برخه نلري ځکه نو د دې سرچینو لپاره د توکو په ټولګه (ټولکیټ) کې د دوي په اړه شمېرې شتون نلري. ددې فعالیتونو د سروې لپاره فورم جوړ شوی دی او په لومړۍ ضمیمه کې راغلی دی. |

| د غیر قصدي تولیداتو سرچینې | د څارنې او څېړنې میتودونه |
|---|---|
| ټرانسپورټ | د عراده جاتو په اړه ډیټا چې په ۱۳۹۲هـ ل کال کې ثبت شوي وو د احصایې د مرکزي ادارې د ۲۰۱۴-۲۰۱۳ کلونو د احصایوي کتاب څخه اخیستل شوې ده. د ډیزلي او پطرولي عراده جاتو د تناسب او ورځنۍ ګټه اخیستنې ډیټا د کابل د هوا د کیفیت د مدیریت ستراتېژۍ څخه چې د چاپېریال ساتنې د ملي ادارې – آسیا پرمختیایي بانک له خوا په ۲۰۰۷ کال کې چمتو شوې وه اخیستل شوې ده. د سون توکو د مصرف اټکل (لیتر/۱۰۰ کیلومتره) د عدلیې وزارت د سون توکو د مصرف په اړه د مقررې له ضمیمو څخه لاسته راغلې ده چې په ۱۰۱۵ ګڼه رسمي جریده کې خپره شوې ده. له دې دیټا څخه د موټرو پواسطه د ډیزلو او پطرولو کلنی لګښت اټکل شوی دی. (دوهمه ضمیمه):<br>ډیزل ۳۴۳ میلیون لیتره<br>پطرول ۱۳۳۰ میلیون لیتره<br>دا شمېرې باید اټکلي وګڼل شي، مګر د اړونده سرچینو څخه د خپرېدو د کچې یوه نښه وړاندې کوي. د پام وړ پایلې چې په لاس راغلې ښکاره کوي چې دوه ټایره عراده جات (موټرسایکل او ریکشاګانې) g TEQ۱.۹۶ تولیدوي حال دا چې څلور ټایره عراده جات g TEQ۰.۹۶ تولیدوي. پدې کې له درنې ماشینرۍ څخه خپرېدل شامل ندي، کوم چې به له ډیزلو څخه وي. |
| د پرانیستې (سرلوڅې) سوځونې پروسې | په عمومي ډول په افغانستان کې کرنیز پاتې شونې نه سوځول کېږي. مګر د کورونو د تودولو او حیواناتو د خوړو په توګه ورڅخه ګټه اخیستل کېږي. په ځنګلونو کې د اورلګېدنو ډیر کم راپورونه شتون لري، مګر په چمن زارو سیمو کې د اورلګیدنې پیښې کله چې څړځایونه وچ شي ډیرې زیاتې تکرارېږي. د ګلخانه یي ګازونو نوملړ چې د آسیا پرمختیایي بانک چمتو کړی دی د پرانیستې سوځونې لپاره د Gg ۳۱۷۰.۶۷ شمیرې وړاندې کوي[۳۹]. په دې کې د محصولاتو له پاتې شونو څخه د سون توکو په توګه ګټه اخیستنه شامله ده. د کورنیو چارو وزارت د ناخاپي اورلګیدنو د پېښو د ۶ میاشتو څخه د ډېرې مودې ډیټا چمتو کړېده. د لرګیو له سکرو څخه په ډېر ګمان سره د کورونو د تودولو په موخه ګټه اخیستل کېږي. |
| د کېمیاوي او مصرفي توکو تولید | افغانستان ستر صنعتي او کېمیاوي سکټور نلري. د احصایې مرکزي ادارې په کېمیاوي برخه کې د شرکتونو شمیر ۵۰ او د وړو شرکتونو شمیر ۱۸۹ ښودلی دی. د ترکاڼیو او کاغذونو د چاپ ټولیزه شمېر ۱۰۴ ښودل شوی دی. د ټیټ کیفیت لرونکو پلاستیکي محصولاتو یو کوچنی صنعت هم شتون لري لکه د پلاستیکي چپلقو صنعت چې بیا رغول شوي (ریسایکل شوي) توکي کاروي. په ټولکیټ کې د دې کړنو د کچې لپاره شمېرې شتون نلري. |

39. ADB. (2007). *Afghanistan Greenhouse Gas Inventory Report.* Manila: Asian Development Bank.

| منبع تولید غیر عمدی | میتودهای مرورکلی و روش تحقیق |
|---|---|
| **بیلابیل** | د یوه مسلمان هیواد په توګه، د مړو سوځونه په افغانستان کې ډیره نه تر سترګو کېږي، مګر د بودایانو او هندوانو وړې ډلې شته چې دا کار کوي. د مړو د سوځونو کلنۍ شمیره لږه ده. د مړو د سوځونو نوي ځایونه په پلان کې دي. دا برخه د مقاومو عضوي ککړوونکو د تولید یوه د پام وړ سرچینه نه بلل کېږي. د ګمرکي خدمتونو د راپور پر بیسټ په ۱۳۹۴مالي کال کې ۸۷۸ ټنه سګرېټ په قانوني بڼه هېواد ته وارد شوي دي. د افغانستان خورا اوږدو او خلاصو سرحدونو ته په کتو سره دا شمېرې په واقعیت کې د پام وړ کمې په نظر کې نیول شوي دي. |
| **له منځه وړل شوي** | د چاپېریال ساتنې ولایتي دفترونه و پوښتیدل شول چې د ښاري جامدو پاتي شونو د له منځه وړلو او ککړو اوبو د دفع کولو په هکله ډېټا چمتو کړي (د تفصیلاتو لپاره ۳ ضمیمه وګورئ). په کوم ځای کې چې د ښاري جامدو پاتي شونو شمېرې په مکعب متر سره ورکړل شوي، د تبدیلي یو فکتور د ټن پر سر m32.12 کارول شوی دی. د ټولو ولایتونو پایلې نه دي را رسیدلې، دا څېړنې د چاپېریال ساتنې د اداري د کارکوونکو له خوا ځارل کېږي. |

ج. پایله

د هرې کورنۍ د gTEQ اندازې چې د توکو د ټولګې (ټولکېټ) په مرسته محاسبه شوې دي په راتلونکي اووم چوکاټ کې، او ډېټا ګانې یې په ۴ مه ضمیمه کې ورکړل شوي دي. د ضعیفې ټکنالوژۍ پرمټ د طبي پاتي شونو د سوځولو له امله د دې توکو ډېر زیات تولید او په اړه یې د کره معلوماتو د نشتون په پام کې نیولو سره دوی ته باید په راتلونکو څېړنو او کړنو کې لومړیتوب ورکړل شي.

**۷ چوکاټ: د غیر قصدي تولیداتو په بڼه د ډای اکسینونو، فیورانونو او PCBs کلني خپرېدل (gTEQ)**

| ګروپ | د سرچینې ګروپونه | کلني خپرېدل (gTEQ/a) | | | تولید | پاتي شوني |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | هوا | اوبه | ځمکه | | |
| ۱ | د کثافاتو سوځول | ۲۷.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۲ |
| ۲ | اوسپنیز او غیر اوسپنیز فلزي تولیدات | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ |
| ۳ | د تودوخې او برېښنا تولید | ۹۳.۸ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۳.۲ |
| ۴ | د منرالي محصولاتو تولید | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ |
| ۵ | ټرانسپورټ | ۳.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ |
| ٦ | د پرانیستي سوځونې بهیر | ۹۵.۵ | ۰.۰ | ۳۲.۱ | ۰.۰ | ۰.۰ |
| ۷ | د کیمیاوي او مصرفي توکو تولید | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ |
| ۸ | بیلابیل | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ | ۰.۰ |
| ۹ | له منځه وړل شوي | ۰.۰ | ۲.۴ | ۰.۰ | ۱.۰ | ۲۱۱.۵ |
| ۱۰ | د اساسي نقطو د پتاسیل پېژندنه | | | | ۰.۰ | ۰.۰ |
| ۱ - ۱۰ | **مجموعه** | **۲۲۰.۲** | **۲.۴** | **۳۲.۱** | **۱.۳** | **۲۱۵.۰** |
| | **ټولیزه مجموعه** | **۴۷۱** | | | | |

## ۵.۴ هیکزا برومو بای فینایل (HBB) او پولي بروminیټ شوي ډای فینایل ایترونه (PBDE): تترا برومو ډای فینایل ایتر، پینتا برومو ډای فینایل ایتر، هیکزا برومو ډای فینایل ایتر او هیپتا برومو ډای فینایل ایتر.

الف. پیلیز حالت

پولي برومینېټ شوي ایترونه د اور ځنډوونکو په توګه په ډېری محصولاتو کې  چې پکې ودانیز توکي، الکترونیکي وسایل،  مبل او فرنیچر، موټرونه، الوتکې، پلاستیکونه، پلي ارتان فومونه او منسوجات شامل دي، کارول شوي دي. که څه هم د دوی بدیل اوس موندل شوی دی، له ډېرو داسې توکو څخه اوس هم ګټه اخیستل کېږي چې دا توکي په خپل جوړښت کې لري او داسې انګیرنه کیږي چې په افغانستان کې هم دا توکي شتون ولري.

دا کېمیاوي توکي په ډېر احتمال سره له ۲۰۰۴ کال راهیسې نه دي تولید شوي نو ځکه یې په هغو تولیداتو او محصولاتو کې د شتون امکان لږ دی چې د طالبانو د رژیم وروسته وارد شوي دي. دوی د خپل ګټور ژوند په پای کې د جامدو ښاري پاتې شونو ډېرانونو ته اچول کیږي ځکه نو له هغوی څخه چاپېریال ته د HBB او PBDE د خپرېدو امکان شتون لري.

ب. تګلاره

هغه توکي او تولیدات چې له دې نېټې څخه وړاندې هېواد ته را وارد شوي دي انګیرنه کیږي چې دوی پکې شتون ولري او هیڅ کومه عملي لاره د دوی د کچې د اټکل لپاره شتون نلري.

ج. پایله

د دې کېمیاوي توکو سره د چلند مناسبه لاره د ښاري جامدو پاتې شونو د مدیریت پیاوړي کول ده.

## ۵.۵ هیکزا برومو سایکلو دیکان (HCBD)

الف. پیلیز حالت

HCBD د لمبې د ځنډوونکي په توګه په پراختیا ورکړل شوو او اکسترود شوو پولیسترین ودانیزو توکو کې کارول شوي دي. دا د بیولوژیکي راټولېدو (bioaccumulate) پیاوړی ظرفیت لري. په ډېری هېوادونو کې اوس د دې توکو لپاره بدیل موندل شوی دی مګر ترکیې، چین، چک جمهوریت او اروپایي ټولنې د دوی لپاره د ځانګړې بښنې په موخه ځانونه ثبت کړي دي. ځکه نو له دې هېوادونو څخه د پولیسترین ودانیز توکي باید د دې توکو د شتون په موخه وڅېړل شي.

ب. تګلاره

کومه تګلاره شتون نه لري.

ج. پایله

د خپرېدو اصلي ګواښ یې کله چې ودانۍ ونړیږي او له منځه ولاړې شي منځ ته راځي.

## ۵.۶ پیر فلورو- اکټان سلفونیک اسیډ او د هغې مالګې، او پیر فلورو- اکټان سلفونایل فلوراید (PFOS)

الف. پیلیز حالت

پیرفلورو- اکټان سلفونیک اسیډ او د هغې مالګې، او پیرفلورو- اکټان سلفونایل فلوراید (PFOS) د صنعتي کېمیاوي توکو د یوې داسې کورنۍ نوم دی چې د سطحې د فعالو ځانګړنو په وجه ارزښت لري. (PFOS) د سټکهلم کنوانسیون په (B) ضمیمه کې راغلی دی. دا په دې معنا ده چې کارونه یې د ځانګړو محدودیتونو لاندې تر اوسه جواز لري. (PFOS) تر اوسه په ډېری هېوادونو کې تولیدېږي.

د منلو وړ غوښتنې

- تصوير اخيستنه، د تصوير مقاومت، او د نيمه هادي لپاره د عايق پوښونه.
- د ټېزابو پواسطه د ترکيب شوي نيمه هادي پاکوونکی او د سراميک فلټر کوونکی.
- د هوايي چلند لپاره د هايدروليک مايع.
- د فلزاتو پوښل (د سختو فلزاتو پوښل) يواځې د تړل شوو کړيو په سيستمونو کې.
- ځانګړي طبي وسايل (لکه ايتايلين تيترا فلورو ايتايلين کاپولايمير (ETFE) طبقې او راديو – اوپک (ETFE) محصولات)
- په In-vitro تشخيصيه طبي وسايلو کې.
- CCD رنګه فلټرونه
- اور وژونکي فومونه
- د حشراتو خواره، د پاڼو خوړونکو مېږيانو (Atta spp او Acromyrmex spp) ډولونو څخه د پاڼو د ساتنې په موخه.

يو شمېر هېوادونو د (PFOS) د دوامداره توليد او کاروني لپاره د ځانګړې بښنې په موخه ځانونه ثبت کړي دي. هغه هېوادونه چې دا توکي ممکن بازار ته داخل کړي په اتم چوکاټ کې يې لست راغلی دی. سره له دې چې د ډېرو بښنو نېټه پوره شوې ده، هغه توکي چې د پای ته رسېدو نېټې څخه وړاندې توليد شوي دي ممکن تر اوسه په دوران کې و اوسي.

**۸ چوکاټ: د ( PFOS) د توليد او کېنه اخيستنې لپاره  ثبت شوې ځانګړې بښنې**

| ګړي | د پای ته رسېدو نېټه | د محصول څخه د ګټه اخيستنې لامل | د بښنې لپاره دليل |
|---|---|---|---|
| چين | نده چمتو شوې | ۰۴. د ځينو رنګه پرينټرونو او چاپ ماشينونو برقي او الکترونيکي برخې. | په اوس حالت کې بغير له کوم مناسب بديل څخه ورڅخه ګټه اخيستل کېږي او د بديل موندل به يې ډېر وخت ونيسي. |
| ويتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۴. د ځينو رنګه پرينټرونو او چاپ ماشينونو برقي او الکترونيکي برخې. | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ويتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۷. فرشونه | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ويتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۸. چرم او جامې | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ويتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۹. منسوجات او داخلي توکي | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ويتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۰. کاغذ او بسته بندي | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ويتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۱. پوښښ او د اضافي توکو پوښول | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ويتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۲. ربړ او پلاستيک | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| نايجيريا | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۷. فرشونه | په اوس وخت کې بديل نلري |
| نايجيريا | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۸. چرم او جامې | په اوس وخت کې بديل نلري |
| نايجيريا | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۹. منسوجات او داخلي توکي | په اوس وخت کې بديل نلري |
| نايجيريا | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۰. کاغذ او بسته بندي | په اوس وخت کې بديل نلري |

| | | | |
|---|---|---|---|
| نایجیریا | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۱. پوښښ او د اضافي توکو پوښول | په اوس وخت کې بدیل نلري |
| نایجیریا | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۲. ربړ او پلاستیک | په اوس وخت کې بدیل نلري |
| ایران | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۷. فرشونه | د هیواد ډیټا تر اوسه نده چمتو شوې |
| ایران | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۸. چرم او جامې | د هیواد ډیټا تر اوسه نده چمتو شوې |
| ایران | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۹. منسوجات او داخلي توکي | د هیواد ډیټا تر اوسه نده چمتو شوې |
| ایران | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۰. کاغذ او بسته بندۍ | د هیواد ډیټا تر اوسه نده چمتو شوې |
| ایران | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۱. پوښښ او د اضافي توکو پوښول | د هیواد ډیټا تر اوسه نده چمتو شوې |
| ایران | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۲. ربړ او پلاستیک | د هیواد ډیټا تر اوسه نده چمتو شوې |
| ویتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۴. د ځینو رنګه پرینټرونو او چاپ ماشینونو برقي او الکترونیکي برخې. | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ویتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۷. فرشونه | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ویتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۸. چرم او جامې | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ویتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۰۹. منسوجات او داخلي توکي | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ویتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۰. کاغذ او بسته بندۍ | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ویتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۱. پوښښ او د اضافي توکو پوښول | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |
| ویتنام | ۲۰۱۵/۰۸/۲٦ پای ته رسېدلي | ۱۲. ربړ او پلاستیک | تر اوسه ورڅخه ګټه اخلي |

په پایله کې، امکان لري PFOS له لاندې سرچینو څخه د افغانستان چاپېریال ته خپاره شي.

- د اور وژونکو وسایلو زېرمې
- د اور وژنې روزنیزې سیمې
- پاتې شونې (کثافات) چې تصفیه شوي کاغذ، د خوړو بسته بندۍ، زاړه مصنوعي فرشونه، الکترونیکي توکي، منسوجات، او چرمونه په کې شتون ولري.

- د هوايي چلند لپاره د هايدروليک ککړ شوي تيل
- د دفع شوو طبي توکو سوځونه
- د کاغذ او چاپ صنعت

ب. تکلاره

د ملګرو ملتونو د چاپېريال پروګرام د (PFOS) د نوملړ د جوړولو لپاره لارښوونې وړاندې کوي:

د ګمرکاتو د خدمتونو څخه وغوښتل شول چې د نړيوالو تجارتي توکو لپاره د همغږو سيستمونو د کودونو (HS) څخه په ګټه اخيستنې، د هغو توکو د صادراتو په اړه احصاييوي شمېرې چمتو کړي چې ممکن پخپل جوړښت کې (PFOS) ولري (۹ چوکاټ وګورئ):

| ولري (PFOS) چوکاټ: د هغو وارد شوو توکو ارزښت چې ممکن ۹ | | |
|---|---|---|
| **توکی** | **کوډ HS** | **ارزښت (افغانۍ)** |
| مصنوعي فرشونه | ۵۷ ۰۱ ۹۰ | ۵۴۰۴۴۰۰۰۰ |
| مصنوعي فرشونه | ۵۷ ۰۲ ۳۲ | ۷۰۰۰۰۰ |
| مصنوعي فرشونه | ۵۷ ۰۲ ۴۲ | ۸۵۰۰۰۰ |
| مصنوعي فرشونه | ۵۷ ۰۲ ۹۲ | ۱۶۰۰۰۰ |
| اور وژونکي فومونه | ۳۸ ۱۳ ۰۰ | ۰ |
| د اوبو ضد کاغذونه او د خوړو د بسته بندۍ کاغذونه | ۴۸ ۰۶ ۴۰ | ۹۰۰۰۰۰۰ |
| رنګونه او ځلاوې | ۳۲ ۰۸ ۱۰ | ۳۲۷۰۰۰۰۰۰ |
| رنګونه او ځلاوې | ۳۲ ۰۸ ۲۰ | ۲۰۰۰۰۰۰ |
| د ټوکرانو لپاره بشپړوونکی یا د رنګولو عامل | ۳۸ ۰۹ ۱۰ | ۴۰۰۰۰۰۰ |
| د ټوکرانو لپاره بشپړوونکی یا د رنګولو عامل | ۳۸ ۰۹ ۹۱ | ۶۰۰۰۰۰۰۰ |
| ولډېنګ کاري او جوش کاري | ۳۸ ۱۰ ۱۰ | ۱۳۸۰۰۰۰ |
| ولډېنګ کاري او جوش کاري | ۳۸ ۱۰ ۹۰ | ۱۹۰۰۰۰ |
| د الوتکو هايدروليک مايع | ۳۸ ۱۹ ۰۰ | ۲۹۳۰۰۰۰۰۰ |

ج. پايله

دا شمېرې څرګند لومړيتوبونه ښکاره کوي: مصنوعي فرشونه، د ټوکرانو لپاره بشپړوونکي عامل، او د الوتکو د هايدروليک مايع. (PFOS) يوازې په خورا لوړ کيفيت لرونکو رنګونو او ځلاګانو کې کارول کېږي نو له همدې امله د دې کټګورۍ د لوړو شمېرو څخه بايد د يوې نښې په توګه کار واخيستل شي چې د (PFOS) يوه لويه کچه په همدې بڼه افغانستان ته راوړل کېږي. ځينې کمپنۍ چې په کېمياوي سکتور کې لست شوي دي، له وارداتي توکو څخه کورني پاکوونکي محصولات جوړوي چې دا امکان لري (PFOS) په خپل جوړښت کې ولري. هيڅ اور وژونکي فومونو ببرته نه دي ستانه شوي ځکه چې دوی د دولت لپاره واردېږي او ګمرکي خدمات يې مسئوليت نلري.

## ۵. ۷ هیکزا کلورو بوتادین (HCB)

الف. پیلیز حالت

HCB یو صنعتي محلل دی او په قصدي توګه نه تولیدېږي.

ب. تګلاره

کومه تګلاره شتون نه لري.

ج. پایله

څرنګه چې افغانستان کېمیاوي صنعت نلري، دا توکي هم نه تولیدوي او نه هم ورته غوښتنه شتون لري. له همدې امله په اوس وخت کې د ډېر غور وړ نه بلل کېږي.

## ۵. ۸ پینتا کلورو بنزین (PeCB)

الف. پیلیز حالت

پینتا کلورو بنزین (PeCB) د (PCB) په محصولاتو، وېښتانو په رنګونو، فنجي وژونکو، د لمبو ځنډوونکو، او کېمیاوي کتلستونو په توګه لکه پدې وروستیو کې د کوینټوزین د تولید لپاره وکارول شول. امکان لري چې (PeCB) به اوس هم د کېمیاوي کتلستونو په توګه کارول کېږي. (PeCB) په غیر قصدي توګه د سوځولو، تودخې او صنعتي پروسو په جریان کې تولیدېږي. همدا شان دوی د آفت وژونکو او محللونو په محصولاتو کې د ناپاکۍ په بڼه هم شتون لري.

ب. تګلاره

کومه تګلاره شتون نه لري.

ج. پایله

ګومان نه کېږي چې (PeCB) دې په هیڅ کچه په افغانستان کې شتون ولري، خو ګامونه اخیستل شوي دي ترڅو له پاتې شونو څخه د مقاومو عضوي ککړوونکو (POPs) د خپرېدو مخنیوی اوله سون څخه په غیر قصدي بڼه د شته احتمالي تولید کچه هم راټیټه کړي.



د افغانستان برېښنا شرکت د ټرانسفرمرونو زېرمې  چې باید د (PCB) تیلو لپاره سروې شي. کابل © اندریو هاروي، د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام

## ۵.۹ په نوملړ کې تشې

| | |
|---|---|
| طبي سوځوونکي | د طبي پاتې شونو د سوځولو لپاره د کارول شوو ټکنالوژيو او د پروسس شوو پاتې شونو د کچې په اړه نورو معلوماتو ته اړتيا شته. د عامې روغتيا وزارت او چاپېريال ساتنې ملي اداره بايد په ګډه سره سروې په لاره واچوي او د هغه فورم څخه ګټه واخلي چې ملي کېمياوي کارې ډلې جوړ کړی دی (۱ ضميمه). |
| منرالي محصولات | د سمنټو، آهکو او ښيښو د کميت په اړه معلومات په لاس رانغلل. د دې پروسو لپاره بايد سروې په لاره واچول شي. |
| د جسدونو سوځونه | په کال کې د سوځول شوو مړو د شمېر په اړه معلومات ترلاسه نه شول. |
| ناخاپي اورلګېدنې | د موټرو د اورلګېدنو په اړه ډېټا شتون نلري. |
| د ماشينونو تيل | د انجيني وسايلو لپاره د ډيزلو او د درندو تېلو د مصرف په اړه معلومات ترلاسه نه شول. په شخصي جنراټورونو، کورنو او صنعتي برخو کې د ګاسولينو او ډيزلو د مصرف په اړه معلومات ترلاسه نه شول. |
| د برېښنا د لېږد په سيستمونو کې PCBs | د افغانستان برېښنا شرکت له خوا د جګړې څخه د مخکې کلونو د ټرانسفرمرونو او بطريو بايد هر اړخيزه سروې وشي. په دې موخه بايد د چاپېريال ساتنې ملي اداره او د افغانستان برېښنا شرکت په ګډه کار وکړي او د سروې له هغه فورم څخه ګټه واخلي چې د ملي کېمياوي کارې ډلې له خوا جوړ شوی دی (۱ ضميمه). |
| د اور وژنې فومونه | د اور وژنې د فومونو په هکله معلومات ترلاسه نه شول. د ګمرکاتو خدمتونو د راپور پر اساس يې هيڅ واردات نه دي شوي. تر ټولو ستر مصرف کوونکی يې د هوايي چلند صنعت دی، مګر دوی امکان لري چې د کورنيو چارو وزارت او ملي دفاع وزارتونو د اور وژنې د چوپرتياوو له خوا هم و کارول شي. زياته اندازه يې امکان لري چې د نړيوالو ځواکونو له خوا وارد او د افغانستان اړونده چاراوکو ته سپارل شوي وي. په دې برخه کې بايد نورې څېړنې وشي. |
| د اور ځنډوونکي (HBB, PBDE, HBCD,) | د هغه توکو په اړه شته معلومات چې د اور ځنډوونکي محصولات په خپل جوړښت کې لري کافي نه دي. په دې موخه د مقاومو عضوي ککړوونکو کارونه بنده شوې ده، لاکن د جګړې څخه د مخکې وختونو يوه نامعلومه اندازه يې حتماً شتون لري. ترکي ودانيز توکي چې په کې پراخ شوي پوليسترين شتون لري بايد د يوه ګواښ په بڼه وګڼل شي. |
| صنعتي محصولات | د صنعتي سکټور په اړه نورو معلوماتو ته اړتيا شته: کارول شوې ټکنالوژي، توکي (لکه هغه چې د ټوکرانو د رنګولو، چرم او کاغذ، ولډينګ او جوش کارې او د پاکوونکو محصولاتو د اجزاوو په توګه) وارد شوي او د توليداتو کچه يې. په کومو ځايونو کې چې توکي واردېږي د هغوی منشأ بايد وکتل شي او هم معلومه شي چې آيا دوی پخپل جوړښت کې (PFOS) لري که نه. په همدې ترتيب، د رنګ شوو توکو، لکه کاغذو، ټوکرانو، فرشونو، چرم او پلاستيکونو منشأ بايد وپېژندل شي او معلومه شي چې آيا (PFOS) لري او که نه. د (PFOS) څخه د ګټه اخيستنې احتمال په کانونو او د تيلو په استخراج کې هم شتون لري. دا د توليد په ساحو کې اوبو ته د خپربدو وړتيا لري چې د توليدي سيمو د ککړتيا لامل ګرځي. |

٦

# د کېمیاوي عمل پلانونه



# د کېمیاوي عمل پلانونه

د کېمیاوي عمل د پلانونو حقیقي معنا داده چې د دې پلانونو له لارې به د افغانستان دولت په هېواد کې د مقاومو عضوي ککړوونکو تولید او خپرېدل کم او یا له منځه یوسي. د کېمیاوي توکو د هرې ډلې لپاره چې یوشان تګلارې ته اړتیا لري جلا پلانونه جوړ شوي دي او یا په ځینو برخو کې د یوې کېمیاوي مادې لپاره جلا پلان جوړ شوی دی. د کېمیاوي عمل هر یو پلان موخې، کړنې، او پایلې څرګندوي، مسئولې اداري معرفي کوي، د هرې کړنې لپاره بودیجه او مهالوېش ټاکي.

په افغانستان کې د مقاومو عضوي ککړوونکو د خپرېدو د کمولو او یا له منځه وړلو لپاره کړنې به د اړوندو ادارو له خوا چې د ملي کېمیاوي کاري ډلې په چوکاټ کې کار کوي د چاپېریال ساتنې د ملي ادارې د څارنې لاندې پلې شي.

د چاپېریال ساتنې ملي اداره به د ژوند د چاپېریال قانون لاندې داسې یوه مقرره صادره کړي چې د مقاومو عضوي ککړوونکو تولیداتو او محصولاتو د واردولو څخه مخنیوي ته قانوني بڼه ورکړي، په دې کې به د منلو وړ ګټه اخستنې لپاره منل شوو توکو ته استثنا شتون ولري. د ګمرکونو خدمتونه به د دې مقررې د پلي کولو دنده په غاړه ولري.

ځینې ځانګړې کړنې لکه: د ککړو شوو اوبو تصفیه کول او د ښاري پاتې شونو له منځه وړل او دفع کول ډېرې پانګونې ته اړتیا لري. په دې برخه کې ځینې کړنې په لاره اچول شوې دي. نورو مرستو ته د اړتیا په صورت کې به هغه پیسې وکارول شي چې د نړیوالې ټولنې لخوا د هېواد د بنسټونو د بیارغونې لپاره مرسته شوې دي.

## ۶.۱ د مقاومو عضوي ککړوونکو د ملي پالیسۍ بیان

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت چاپېریالي پالیسي د چاپېریال په ملي تګلاره (ستراتېژۍ) کې واضح شوې ده، چې لرې لید یې د هېواد د چاپېریال د پالنې، ساتنې او ښه والي له لارې د افغانستان د وګړو د ژوند د کیفیت ښه کول دی. د پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي:

- د افغانستان د وګړو لپاره د پاک او روغ چاپېریال خوندي کول.
- د طبیعي سرچینو او هېواد د چاپېریال ساتنې له لارې تلپاتې اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ته رسېدنه.
- د ټولو شریکانو د ګډون له لارې د هېواد د چاپېریال د اغېزمن مدیریت څخه ډاډ ترلاسه کول.

د چاپېریال ملي تګلاره د دولت د ژمنو څخه څو اړخیزه چاپېریالي هوکړه لیکونو ته د پیوستون او د هغوی اړوند چې کوم مکلفیتونه لري ملاتړ کوي. دا تګلاره همدارنګه د هوا د ککړتیا بنسټیزو لاملونو ته هم د هوا د کیفیت د تګلارې او د ښاري او صنعتي چاپېریالي مدیریت د تګلارې له لارې رسېدنه کوي.

د دې تګلارو ځانګړې موخې عبارت دي له:

د تودوخې او پخلي په موخه د هوا د ککړوونکو فوسیلي سون توکو او په موټرو کې د ټیټ کیفیت لرونکو سون توکو څخه د ګټه اخیستنې له د هوا ککړوونکو د خپرېدو راټیټول.

په پراختیایي کړنو کې د چاپېریالي ارزونې په پام کې نیول او پلي کول، په ښاري پلانونو او د ګواښ پېښوونکو پاتې شونو، خامو توکو او محصولاتو د ناقانونه سوداګرۍ څخه په مخنیوي کې د چاپېریالي پالېسیو شاملول.

چاپېریالي پالیسي د ژوند د چاپېریال د قانون له خوا چې په ۹۱۲ شمېره رسمي جریده کې د ۲۰۰۷ کال د جنوري د میاشتې په ۲۵ نېټه خپور شوی دی ملاتړ کېږي، کوم چې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې ته پوره قانوني واک ورکوي.

د ژوند د چاپېریال قانون د نهمې مادې پر بنسټ، د چاپېریال ساتنې ملي اداره باید دوه اړخیزه او څو اړخیزه چاپېریالي هوکړه لیکونه چې افغانستان یې غړیتوب لري پلي او هغه چې د چاپېریال د ساتنې او بیا رغونې په اړه دي د دولت په استازیتوب لاسلیک کړي.

د چاپېریال ساتنې ملي اداره خپل د همغږۍ رول، د چاپېریال د همغږۍ د کمېټې (CEC) او د چاپېریال د ملي مشورتي شورا (NEAC) د منظمو غونډو له لارې پیاوړی کوي. د همغږۍ دا جوړښتونه د ژوند چاپېریال قانون لاندې د چاپېریال ساتنې د ملي ادارې د لارښوونو سره سم د چاپېریالي حکومتولۍ لپاره د مرستو د راجلبولو په موخه جوړ شوي دي. ټول اړونده وزارتونه او ولایتي ادارې په دې کمېټه کې استازي لري. د چاپېریال د همغږۍ په میکانیزمونو لکه د چاپېریالي همغږۍ کمېټه کې د وزارتونو ګډون دوی ته د چاپېریالي موضوعاتو اړوند معلومات وړاندې کوي ترڅو دوی وکولای شي د خپلې کلنۍ بودیجې لپاره مناسبې غوښتنې چې د چاپېریالي مقتضیاتو سره برابرې وي چمتو کړي.

د سټکهلم کنوانسیون ته په پیوستون سره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د غړو هېوادونو سره د کړو ژمنو د پوره کولو لپاره چې د دې کنوانسیون په پینځمه ماده کې راغلې دي خپل ځان ژمن بولي.

## ۶.۲ د کېمیاوي عمل پلانونه




**آفت وژونکي (الډرین، کلورډین، ډاى الډرین، اینډرین، هېپټاکلور، اچ سي اچ HCH، اچ سي بي HCB، میریکس، ټوکزافین، کلورډیکان، تخنیکي اینډوسلفان او ډي ډي ټي DDT)**

**موخه**

- د الډرین، کلورډین، ډاى الډرین، اینډرین، هېپټاکلور، HCH، HCB، میریکس، ټوکزافین، کلورډیکان، تخنیکي اینډوسلفان او DDT د تولید، وارداتو، خرڅلاو، او کته اخیستنې له منځه وړل.
- د اچ سي اچ د پخوانیو زېرمو پېژندل او له منځه وړل.

**پیلیز حالت**

**(پخوا/اوس)**

د آفت وژونکو د وروستي قانون پر بنسټ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د ټولو آفت وژونکو د وارداتو، خرڅلاو او کته اخیستنې د تنیظم واک لري.

- ټول ارګانو- کلورین آفت وژونکي چې ټول مقاوم عضوي ککړونکي آفت وژونکي پکې شامل دي په اوس وخت کې منع شوي دي.
- د نباتاتو د ساتنې او قرنطین څانګې (PPQD) څارونکي د پرچون پلورنځیو د بازار څارنه کوي او غیر قانوني تولیدات نیول کېږي.
- د نباتاتو د ساتنې او قرنطین څانګه (PPQD) د نړیوال بانک په ملاتړ د آفت وژونکو د څېړلو د یوه لابراتوار د جوړولو او سمبالولو په حال کې ده چې په خاوره کې د پاتې شونو د څېړلو وړتیا لري.
- د نباتاتو د ساتنې او قرنطین څانګه (PPQD) د آفت وژونکو د تنظیم لپاره د نړیوال بانک له خوا د روزنې ملاتړ له ځان سره لري.

| لاندې کړنو ته باید په راتلونکي کې لومړیتوب ورکړل شي: | اداره | ټاکلې نېټه |
|---|---|---|
| د څارونکو نوره روزنه | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د نړیوال بانک په مرسته | ۲۰۱۸ |
| د نیول شوو غیر قانوني آفت وژونکو له منځه وړل | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت | ۲۰۱۸ |
| د ککړو شوو سیمو د مرکزونو د خاورو د نمونو څېړنې | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت/ د چاپېریال ساتنې ملي اداره/ د ملګرو ملتونو د چاپېریال پروګرام | ۲۰۱۸ |
| د ککړو شوو سیمو تصفیه کول او پاکول | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت/ د چاپېریال ساتنې ملي اداره | ۲۰۲۲ |

**د تمې وړ پایلې:**

- د منع شوو آفت وژونکو نه واردول
- له بازار څخه د منع شوو آفت وژونکو ټولول
- د چاپېریال د خوندي ساتنې له لارې د منع شوو آفت وژونکو د زېرمو له منځه وړل (دفع کول).
- د آفت وژونکو د زېرمو د شا او خوا سیمو په خاوره او اوبو کې د آفت وژونکو له پاتې شونو څخه روغتیا ته د ګواښ نشتون.




# اچ بي بي HBB، پي بي ډي اي PBDE ، او اچ بي سي ډي HBCD

| | |
|---|---|
| موخه | د هغو محصولاتو د وارداتو مخنیوی چې پکې HBB، PBDE، HBCD د اورځنډوونکو په توګه شتون لری او داډ ترلاسه کول چې له منځه تللي محصولات چې دوی پکې شتون لري د چاپېریال خوندي ساتلو په یوه مناسبه لاره له منځه وړل کېږي. |
| پیلیز حالت (پخوا/اوس) | دا توکي اوس په پراخ ډول بند شوي دي او په نړیواله سوداګرۍ کې په آسانۍ سره نه موندل کېږي. په هرحال، امکان لري ځینې محصولات چې دوی پکې شتون لري تر اوسه په بازار کې شتون ولري.<br><br>اصلي ستونزه چې دا کیمیاوي توکي یې منځ ته راوړي، هغه د هغو کیمیاوي توکو له منځه وړل دي چې دوی پکې شتون ولري. ګمان کېږي چې دوی جامدو ښاري پاتې شونو ته واچول شي او که چېرې په چاپېریالي مناسبو لارو سره مدیریت نه شي، بالاخره به د ځمکې لاندي او روانو اوبو ته د خپرېدو پایله له ځان سره ولري. د جامدو ښاري پاتې شونو په تړاو د پالیسۍ مسئولیت د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې (IDLG) دی. مالي او تخنیکي مسئولیتونه یې په ښاروالیو پورې اړوند دي. |

| لاندې کړنو ته باید په راتلونکي کې لومړیتوب ورکړل شي: | اداره | ټاکلې نیټه |
|---|---|---|
| د HBB، PBDE او HBCD اور ځنډوونکو د تولید د بندولو لپاره د مقرراتو جوړول | د چاپېریال ساتنې ملي اداره | ۲۰۱۸ |
| د مصرفي محصولاتو او وادانیزو توکو لپاره د ملي سټنډردونو جوړول چې HBB، PBDE او HBCD اور ځنډوونکي بندوي | د افغانستان د سټنډرډ ملي اداره | ۲۰۲۰ |
| د جامدو ښاري پاتې شونو د ښخولو او له منځه وړلو لپاره د ودانیزو کوډونو جوړول | د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره/ د چاپېریال ساتنې ملي اداره | ۲۰۲۰ |

| | |
|---|---|
| د تمې وړ پایلې | • د هغو توکو نه واردول چې په خپل جوړښت کې PBDE، HBB او HBCD ولري.<br>• شته توکي به د خپل ژوند ګټور په پای کې چاپېریال ته د دا توکي خپاره نه کړي. |



# پیرفلورو-اکتان-سلفونیټ او پیرفلورو-اکتان-سلفونیک اسید
# PFOS او PFOA

**موخه**

له پلاستیکونو، کاغذي محصولاتو، مصنوعي فرشونو، منسوجاتو، رنګونو او اور وژونکو فومونو څخه د PFOS د خپرېدو له منځه وړل. ضروري محصولات چې د منلو وړ ګټه اخیستنې تر پوښښ لاندې راځي لکه طبي وسایل او اور وژونکي فومونه چې په خپل جوړښت کې PFOS لري، که چېرې په چاپېریالي مناسبو لارو سره له منځه یووړل شي جواز به یې دوام و مومي.

**پیلیز حالت**

**(پخوا/اوس)**

PFOS تر ټولو پېچلې ستونزې راولاړوي ځکه چې دوی ډېره کارونه لري او په ډېرو محصولاتو او تولیداتو کې ممکن شتون ولري او همدا رنګه ځکه چې دوی په (B) ضمیمه (د منلو وړ کارونو) کې راغلي دي. افغانستان باید لومړی دا پرېکړه وکړي چې آیا اړتیا لري چې کوم یوه له دې منلو وړ کارونو ته اجازه ورکړي او بیا د پاتې نورو د له منځه وړلو لپاره قوانین نافذ کړي.

پر دې سربېره، PFOS هغه شان ستونزې منځ ته راوړي کومې چې د PBDE، HBB او HBCD په اړه ورته اشاره وشوه، نوموړي محصولات او تولیدات مخکې له دې چې په پراخه کچه منع کړل شی، چاپېریال ته خپرېدل.

| لاندې کړنو ته باید په راتلونکي کې لومړیتوب ورکړل شي: | اداره | ټاکلې نیټه |
|---|---|---|
| **د هغو محصولاتو پېژندنه چې په خپل جوړښت کې د PFOS د لرلو جواز ولري.** | د چاپېریال ساتنې ملي اداره/ د عامې روغتیا وزارت/ د کورنیو چارو وزارت، د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره (ACAA) | ۲۰۱۹ |
| **د PFOS د هغو محصولاتو د بندیز په اړه مقرره چې جواز نلري.** | د چاپېریال ساتنې ملي اداره | ۲۰۱۹ |
| **د مصرفي محصولاتو او ودانیزو توکو لپاره ملي سټنډرډونه چې اجازه نه لرونکي PFOS لرونکي محصولات بندوي.** | د افغانستان د سټنډرډ ملي اداره | ۲۰۲۰ |
| **ګمرکونه د اجازه نه لرونکو PFOS لرونکو محصولاتو د واردولو بندیز پلی کوي** | ګمرکونه | ۲۰۲۰ |
| **د جامدو ښاري پاتې شونو د له منځه وړلو په چاره کې ښه والی** | د PBDE، HBB او HBCD عملي پلان وګورئ | |

**د ټمې وړ پایلې:**

د هغه توکو په وارداتو بندیز چې په جوړښت کې یې PFOS شتون ولري، په استثنا د هغوی چې د منلو وړ کارونه یې د ناچارۍ له مخې منل شوي وي، لکه طبي وسایل کوم چې په سمه توګه له منځه وړل کېږي.




# پي سي بي (صنعتي)

| | |
|---|---|
| **موخه** | په برقي وسايلو کې د پولي کلورينېټ شوو بای فينايل (PCBs) له منځه وړل |
| **پيليز حالت (پخوا/اوس)** | په افغانستان کې د جګړې څخه وړاندې کلونو یو زيات شمېر ټرانسفرمرونه شتون لري چې انګېرنه کېږي د (PCBs) سرووڼکي غوړ ولري. د افغانستان برېښنا شرکت زاړه ټرانسفرمرونه بدلوي مګر په (PCB) د ککړو توکو د له منځه وړلو لپاره د وړتیاوو له کمبود سره مخ دی. د (PCB) د سرووڼکو غوړو ضايعات او وربانديې ککړ توکي يوه لويه ستونزه ده چې د پام وړ نړيوالې مرستې ته اړتيا لري. |

| لاندې کړنو ته باید په راتلونکې کې لومړیتوب ورکړل شي: | اداره | ټاکلې نېټه |
|---|---|---|
| د افغانستان برېښنا شرکت ورکشاپ ته د خونديتابه توکو، څېړنيزو وړتياوو او روزنو چمتو کول | د افغانستان برېښنا شرکت | ۲۰۱۸ |
| د شته ټرانسفرمرونو سروې | د افغانستان برېښنا شرکت | ۲۰۱۹ |
| د ضايع شوو تېلو ساتنه په خوندي فلزي لوښو کې او د سيمنټو په فابريکو کې يې سوځونه | د افغانستان برېښنا شرکت | ۲۰۱۸ |
| په چاپېريالي مناسبو لارو د تېلو او ورباندې ککړو وسايلو د له منځه وړلو لپاره د پروژو جوړول | د افغانستان برېښنا شرکت/ د چاپېريال ساتنې ملي اداره/ د ملګرو ملتونو د چاپېريال پروګرام | ۲۰۲۰ |
| په چاپېريالي مناسبو لارو د له منځه وړلو په موخه په PCB د ککړو توکو لېږد | د افغانستان برېښنا شرکت | ۲۰۲۵ |

| | |
|---|---|
| **د تمې وړ پايلې:** | په (PCB) باندې د ککړو برېښنا د ويش وسايلو له منځه وړل |

<table>
